د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبــوعاتــو ریــاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هیوادوالو نظرونه

## 1402لمریز کال

د وري له لومړۍ د غبرګولي تر 31مې



# فهرست


افغانستان په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د دوو مېلیاردو ډالرو په ارزښت صادرات درلودل ........................... ۳

د کمال خان بند پاتې چارې پیل او پر ټاکلي وخت به پای ته ورسېږي ........................................ ۱۳

د سوالگرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالگرو د نغدي او خوراکي توکو د مرستو ویش لړۍ پیل شوه .................................................................................................... ۲۲

افغانستان او ازبیکستان یو شمېر سترې پروژې په گډه پرمخ بیایي ............................................ ۳۱

د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دویم سړک چارې به په وخت پای ته ورسېږي . ۴۱

په ۱۴۰۲ لمریز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداگري درې مېلیارد ډالرو ته ورسېږي ...... ۵۲

اسلامي امارت د بنستیزو پروژو پلي کېدو او پر هغو پانگونې ته ژمن دی ......................................... ۶۲

د مزار شریف- هرات- کندهار ترمنځ به د اوسپنې پټلۍ پروژې لومړني کارونه پیل شي ...................... ۷۲

بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره به کرنه او اقتصاد وده وکړي........................................ ۸۲

د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د بېلابېلو پروژو منظورېدل ........... ۹۲

د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه ................................................................................................ ۱۰۱

لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو ترونونه لاسلیک شول ...................................... ۱۱۰

# افغانستان په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د دوو میلیاردو ډالرو په ارزښت صادرات درلودل




## سریزه:

طبیعي خبره ده چې سوداګریزې راکړې ورکړې د ګټې ترلاسه کولو په موخه تر سره کېږي چې په ترڅ کې یې د توکو او خدماتو وړاندې کوونکي ګټه تر لاسه کوي. که د کورنۍ سوداګرۍ پر ځای نړیوالې سوداګرۍ ته پام واړوو؛ نو ټول هېوادونه هڅه کوي چې د اقتصادي ځان بسیاینې ترڅنګ خپل توکي او خدمات نورو نړۍ ته هم ولېږدوي او د کورني مارکېټ د اشباع تر څنګ د نورو هېوادونو مارکېټونه هم تر خپلې ولکې لاندې راولي. په عمل کې صادرات د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې غوښنه ونډه لري او په اقتصادي پرمختګ، د روزګار په کچه او د سوداګرۍ پر بیلانس مثبته اغېز لري. د دې له پاره چې یو هېواد د اقتصادي پرمختګ پړاو ته ننوځي، باید د سوداګرۍ په بیلانس کې یې صادرات له وارداتو زیات وي، ځکه ډېر صادرات د ډېرو بهرنیو اسعارو د ترلاسه کولو لامل کېږي او د بهرنیو اسعارو زېرمې په نړیوالو بازارونو کې د یوه هېواد د پېر یا اخیستلو ځواک غښتلی کوي.

صادرات د کورني صنعت او کاروبار د ګټې کچه لوړوي، د بازار د نوساناتو کچه راکموي، ځکه صادرونکی هېواد بېلابېلو نړیوالو بازارونو ته لاسرسی لري او د یو ځانګړي بازار د ټکني کېدو په صورت کې نورو بازارونو ته مخه کوي. همدارنګه د صادراتو د پراختیا په صورت کې کورني تولیدونکي د تولید د ډېرولو له لارې د خپلو تولیدي توکو لګښتونه راکموي او په دې کار سره په نړیوال بازار کې زیاته ګټه ترلاسه کوي. صادرات د تقاضا یوه برخه ده، ځکه خو د صادراتو په زیاتوالي سره مجموعي تقاضا هم زیاتېږي او په پایله کې یې اقتصادي پرمختګ ته لار هوارېږي، د دې تر څنګ د صادراتو ډېروالی د یو هېواد د سوداګرۍ بیلانس یو شان ساتي. د صادراتو اهمیت ته په پام سره


یو هېواد باید د خپل اقتصادي پرمختګ په خاطر خپل صادرات زیات کړي. اسلامي امارت د صادراتو اهمیت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګرنډي ګامونه پورته کړي دي او پر دې توانېدلې دی چې د تیرو کلونو په پرتله د صادراتو کچه لوړه کړي. اسلامي امارت توانېدلی دی چې د ۱٤۰۱ لمریز کال د حمل میاشتې له لومړۍ نېټې د کب میاشتې تر پایه د صادراتو کچه دوه میلیارد ډالرو ته ورسوي. په داسې حال کې چې په ۱٤۰۰ لمریز کال کې د صادراتو کچه ۸۵۰ میلیونو ډالرو ته رسېدلې وه، له دې څخه جوتېږي چې د تېر کال په پرتله د صادراتو کچه شاوخوا دوه نیمه برابره شوې ده. له افغانستان څخه د صادرو شویو توکو ۹۷سلنه پاکستان، هندوستان، ازبیکستان، تاجیکستان، ایران، متحده عربي امارتو، چین، ترکیې، قزاقستان، او ترکمنستان او پاتې ۳ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي.هغه توکي چې د ټولو صادراتو ٦۳ سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، انار، رومي بانجان، ممیز، وچ انځیر، جلغوزي، زردالو او پاتې ۳۷ سلنه نور بېلا بېل صادراتي توکي دي. که چېرې د صادراتو بهیر همداسې روان وي، نو لرې نه ده چې افغانستان به په نږدې راتلونکې کې له یوه وارداتي هېواد څخه په بشپړ ډول پر صادراتي هېواد بدل، محصولات او تولیدات به یې په نړیوالو بازارونو کې ځانګړی ځای پیدا کړي.

**موخه:**


صادرات لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه د اقتصاد په پښو درولو کې مهم رول لري، نو په کومه کچه چې د صادراتو اندازه زیاتېږي، په هماغه اندازه به د هېواد اقتصاد غښتلی او هېواد به د پرمختګ په لور ګرنډي ګامونه پورته کوي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «افغانستان په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د دوه مېلیاردو ډالرو په ارزښت صادرات درلودلو» راپور یې خپور کړی دی


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزوني د سلني مجموعه:





**یادونه:** پـه ګـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې افغانسـتان پـه ۱۴۰۱ لمریـز کال کـې د دوه میلیـارد ډالـرو پـه ارزښـت صـادرات درلودلـو راپـور يـې پـه ویډیویـي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپـور کـړی دی.


## دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټویټرپاڼي





#### ویاندویان





#### ورځپاڼي



### ويبپاڼې




### تلويزيونونه




### په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ورځپاڼې





### اژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## افغانستان په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د دوه میلیارد ډالرو په ارزښت صادرات درلودلو په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې موضوع ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. افغانستان په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د دوه میلیارد ډالرو په ارزښت صادرات درلودلو په اړه د تلویزیونونو، ورځپاڼو، اژانسونو، ټوېټرپاڼو، ویاندویانو او ویبپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبت، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۷۵ دی. د دې نظرونو له جملې ٦٦۳ مثبت دي، ۸۲منفي نظرونه او ۳۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۵.۵ ٪، منفي ۱۰.۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

۲. همدارنګه افغانستان په ۱۴۰۱لمریز کال کې د دوه میلیارد ډالرو په ارزښت صادرات درلودلو په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبت، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٥۱٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۲۹ مثبت، ۱۳۷ منفي او ٥۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۴ ٪، منفي نظرونه ۲۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۹ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۵. ۸۵ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ٦۴ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه په ترتیب سره ۲۷ او ۹ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۹۹۲مثبت نظرونه، ۲۱۹منفي نظرونه او ۸۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۷ ٪ مثبت نظرونه، ۱۷ ٪ منفي نظرونه او ٦ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی هغه خبرونه چې د هېواد ګټې پکې نغښتې او مثبت وي، په زیاته کچه د رسنیو، په ځانګړي ډول دولتي رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو له لوري خپرېږي او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات او تر ډېره بریده دا نظرونه بیا مثبت وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري هر ګام چې د هېواد او هېوادوالو په ګټه وي او د افغانستان د پرمختګ لامل ګرځي، ستایي او په مثبت نظر ورته ګوري.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- زموږ هېواد ان شاء الله ورځ په ورځ د اقتصادي پرمختګ په لور روان دی او سیاسي ثبات مو هم ورځ تر بلې مخ په ښه کېدو دی.
- ترڅو چې صادرات بهر ته زیات او واردات کم نه شي او همدارنګه زراعت او صنعت ته وده ورنه کړل شي، اقتصاد نه پیاوړی کېږي.
- د صادراتو کچه دې نوره هم لوړه شي، څو افغانستان له وارداتي حالته راووځي او پر یوه صادرونکي هېواد بدل شي او که دا زموږ په ژوند وشي، نو څومره به ښه وي. اوس چې ورته ګورو، نو ان‌شاءالله چې ډېر ژر به دا کار ترسره شي.
- د کابل تیره اداره له فساد څخه ډکه وه، د ګمرکونو ډېری عواید شخصي جیبونو ته تلل، د ګمرک او محکمې یو عادي مامور به څو بلند منزلونه درلودل.
- د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له محترم مقام څخه په خورا درنښت هیله کوو چې د تېر کال په پرتله د صادراتو په کچه کې څو سلنه زیاتوالی راغلی دی، دا یو ښه زیری دی. داهم باید هیر نه کړو چې له هېواد څخه په زیاته پیمانه خام مواد نورو هېوادونو ته صادر شوي چې لس سلنه ګټه یې زمونږ د هېواد له پاره ده او نوي سلنه د نورو هېوادونو له پاره ده. که چېرې همدغه خام مواد د هېواد په دننه کې په پخو موادو تبدیل شي، هم به مو د وګړو له پاره کاري فرصتونه رامنځته کړي وي او هم به مو عواید لوړ شوي وي.
- هېوادوال د لومړنیو خوراکي توکو له بیو سر ټکوي او په بازار کې سوداګر د احتکار هڅه کوي.
- د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل دی چې د صادراتو کچه دوه میلیارد ډالرو ته رسیږي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ د صادراتو د زیاتوالي په اړه د خلکو له ورانديې شویو نظرونو دا په ډاګه کېږي چې دوی خوښ دي. خو د دې ترڅنګ وایي ترڅو چې صادرات بهر ته زیات او واردات کم نه شي او همدارنګه زراعت او صنعت ته وده ورنه کړل شي، اقتصاد نه پیاوړی کېږي. د دوی دا خبره پر ځای ده تر هغې چې هېواد له وارداتي حالته بهر او پر صادراتي هېواد بدل نه شي، دغه راز کرنه او صنعت چې دواړه حیاتي او د اقتصادي پرمختګ په برخه کې مهم سکټورونه دي، پرمختګ ونه کړي، په رښتیا هم اقتصاد پر خپلو پښو نه درېږي. اسلامي امارت دې برخو ته په پاملرنې سره هڅه کړې چې لومړی هېواد له وارداتي حالته وباسي او پر یوه صادراتي هېواد یې بدل کړي چې د دې ژمنې او کړنې ښه بیلګه یې همدا په ۱۴۰۱ کال کې د صادراتو د کچې لوړوالی دی. د کرنې او صنعت په برخه کې یې هم تر ډېره بریده کار کړی دی چې غوره بېلګې یې په بېلا بېلو ولایتونو کې د کانالونو، کوچنیو، متوسطو او سترو اوبو بندونو جوړول دي.

- **دویم**؛ یو شمېر کسانو بیا وړاندیز کړی چې د تېر کال په پرتله د صادراتو په کچه کې څو سلنه زیاتوالی راغلی دی دا یو ښه زیری دی. داهم باید هیر نه کړو چې له هېواد څخه په زیات پیمانه خام مواد نورو هېوادونو ته صادر شوي چې لېږ ګټه یې موږ او زیاته یې نور هېوادونه وړي. که چېرې همدغه خام مواد د هېواد په دننه کې په پخو موادو تبدیل شي، هم به مو د وګړو له پاره کاري فرصتونه رامنځته کړي وي او هم به مو عواید لوړ شوي وي. اسلامي امارت د یوه مسؤل حکومت په توګه دې ټکو ته پاملرنه کړې ده. کومې داغمه اوسپنې چې پخوا به ګاونډیو هېوادونو ته لېږدول کېدې، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون او کابینې په غونډو کې یې بهر ته د لېږد مخنیوي په اړه پرېکړه وشوه او وویل شول چې له دې وروسته هېڅوک د دې حق نه لري چې داغمه اوسپنې نورو هېوادونو ته ولېږدوي. د دې کار یوازینی لامل دا و چې په هېواد کې دننه د صنعت کارانو له پاره اومه مواد پیدا شي او له همدې اومه موادو څخه په ګټې اخیستنې سره د هېواد د صنعت سکټور وده وکړي او پر خپلو پښو ودرېږي. دغه راز هغه کاني اومه مواد چې په هېواد کې دننه تري ګټه پورته کېږي، د هغو قراردادونه هم له کورنیو شرکتونو سره شوي دي او په قراردادونو کې یادونه شوې ده چې کاني مواد به لومړی په افغانستان کې پروسس کېږي چې لامل یې په کور دننه صنعت له پاره د اومه موادو برابرول دي.

- **درېیم**؛ یو شمیر خلکو بیا په خپلو نظرونو کې نیوکه کړې ده او ویلي یې دي چې د لومړنیو خوراکي توکو بیې لوړې شوې دي او په بازار کې سوداګر د احتکار هڅه کوي. حکومتونه تل د دې هڅه کوي چې خلکو ته د ژوند په ټولو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کړي. له دې ډلې څخه تر ټولو مهم د خلکو اقتصاد دی. د خلکو اقتصادي حالت ښه کېدو له پاره حکومت هڅه کوي چې د خلکو ته کار زمینه برابر کړي. په بازارونو کې د لومړنیو توکو

بیـې کنټـرول او د امکان تـر حـده یـې راټیټـې کړي. اسـلامي امـارت خلکو تـه د کار پیدا کېدو پـه موخـه د زیاترو هغو زیربنایـي پـروژو د چـارو د پیلېـدو لـه پـاره بودیجـه ځانګـړې کـړې چـې کـولای شي پـه زرګونـو کسـانو تـه د کار زمینـه برابـر کـړي. د لومړنیـو خوراکـي توکـو د بیـو راټیټولـو لـه پـاره یـې پـه دې توکـو لـه ۵۰ نـه تـر ۷۰سـلنې پـورې ګمرکي تعرفـې راکمـې کـړې، څـو د توکـو پـه بیـو کـې کموالـی راشي. همـدا اوس هـم د ګاونډیـو او د نړیوالـو بازارونو پـه پرتله پـه افغانسـتان کـې د لومړنیـو توکو بیـې ټیټـې دي.

✍ **څلـورم**؛ یـو شـمېر خلکـو پـه خپلـو نظرونـو کې ویـلي دي چـې د افغانسـتان په تاریـخ کې پـه لومړي ځل پـه دومره لـوړه پیمانـه صـادرات شـوي. رښـتیا هـم کـه چېـرې د تېـرو کلونـو صـادرات وکتـل شي، نـو د ۱۴۰۱ کال د صادراتـو نیمایـي هـم نـه جـوړوي. اسـلامي امـارت د سـوداګرۍ د پراختیا او لـه دې لارې د افغـاني محصولاتـو د صادراتو کچې زیاتـوالي تـه لیوالـه دی. پـه دې اړه یـې پـه کـور دننـه د نندارتونونـو د جوړېـدو ترڅنـګ پـه یـو شـمېر بهرنیـو هېوادونـو کـې هـم افغـاني محصـولات ننـدارې ته وړاندې کـړل، څو یې بهرنیـان وپېژني او افغانـان وکولای شي هغـه د صادراتي اقلامـو پـه جملـه کـې ور شـامل کـړي. د اسـلامي امـارت د همـدې هلـو ځلـو پایله داده چـې موږ یـې وینـو، د صادراتو کچـه ورځ تـر بلـې لوړېـږي. کـه پـه همـدې ډول زمـوږ صـادرات روان وي، نـو لـږې نـه ده چـې افغانسـتان بـه پـه نږدې راتلونکـي کـې د سـیمې پـه کچه یـو سـتر صادرونکی هېـواد وي.

د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي معاونیـت مشرتابـه هڅـه داده چـې د اقتصـاد د پیاوړتیـا لـه پـاره لـه هـرې ممکنـه لارې ګټـه پورتـه کـړي. صـادرات یـو لـه هغـو مهمـو فکتورونـو څخـه ګڼـل کېـږي چـې اقتصـاد ورسره وده کـولای شي او هېـواد چـې کلـه لـه وارداتي حالـت څخـه ووځـي او پـر صـادراتي هېـواد بـدل شي، نـو بیـا لـه شـک پرتـه چـې اقتصـاد غوړېـږي او ورځ تـر بلـې پیـاوړی کېـږي. همـدې اصـل تـه پـه کتـو اسـلامي امـارت دې برخـې تـه زیاتـه پاملرنـه کـړې او دادی مـوږ یـې اوس د سر پـه سـترګو وینـو چـې د افغانسـتان د صادراتـو کچـه مخ پـه لوړېـدو ده. بهرنیـو هېوادونـو تـه د افغـاني محصولاتـو پـه صادراتـو کـې د پـاموړ زیاتوالـی راغلـی دی. د روان ۱۴۰۱ لمریـز کال د حمـل لـه لومـړۍ بیـا د کـب تـر ۲۹مـې پـورې د افغانسـتان د صادراتـو کچـه دوه میلیـارد ډالـرو تـه ورسـېده چـې دا د هېـواد د اقتصـادي پیاوړتیـا او ودې لـه پـاره یـو سـتر ګام دی.

## پایله

صادرات د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې رغنده رول لري، همدارنګه په اقتصادي پرمختګ، د کاري زمینې په برابرولو او د سوداګرۍ پر بیلانس مثبت اغېز لري. د دې له پاره چې یو هېواد د اقتصادي پرمختګ مسیر ته ور داخل شي، باید د سوداګرۍ په بیلانس کې یې صادرات له وارداتو څخه زیات وي، ځکه ډېر صادرات د بهرنیو اسعارو د ترلاسه کولو لامل ګرځي او د بهرنیو اسعارو لویې زېرمې په نړیوالو بازارونو کې د یوه هېواد د پېر ځواک غښتلی کوي. صادرات د کورني صنعت او کاروبار ګټه زیاتوي، د بازار د نوساناتو زیان راکموي، ځکه صادرونکی هېواد بېلابېلو نړیوالو بازارونو ته لاسرسی لري او د یو ځانګړي بازار د ټکني کېدو په صورت کې نورو بازارونو ته مخه کوي. همدارنګه د صادراتو د پراختیا په صورت کې کورني تولیدونکي د تولید د ډېرولو له لارې د خپلو تولیدي توکو لګښتونه راکموي او په دې کار سره په نړیوال بازار کې لا ډېره ګټه ترلاسه کوي. کوم حکومتونه چې د هېوادونو پرمختګ او د خلکو هوساینې، ابادۍ او سوکالۍ ته ژمن وي، هغه بیا پورتنۍ ټکي په عمل کې پیاده کوي. د افغانستان اسلامي امارت پورتنیو ښېګڼو او د نیمګړتیاوو په له منځه وړلو سره هڅه کړې ده چې د خپلو صادراتو کچه لوړه کړي چې ښه بېلګه یې همدا ۱۴۰۱ لمریز کال کې د حمل له لومړۍ بیا د کب تر ۲۹مې پورې دوه میلیاردو ډالرو ته د صادراتو کچې لوړېدل دي. که دا بهیر همداسې روان وي، نو افغانستان به په لنډ وخت کې له وارداتي حالته بهر او په یوه صادراتي هېواد به بدل شي چې ورسره به د افغانستان اقتصاد په پښو ودرېږي او د اقتصاد په برخه کې شته ستونزې به هم مهار او هم به هېواد د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي.

# د کمال خان بند پاتې چارې پیل او پر ټاکلي وخت به پای ته ورسېږي



**سریزه:**

بندونـه اوبـه زېرمـه کـوي او د کرنیـزې پراختیـا او تمـدن لامـل ګرځـي. پخـواني تمدنونه هـم د اوبو ترڅنګ اباد شـوي دي، د بېلګـې پـه توګـه د نیـل سـیند تمـدن او نـور. د اوبـو بندونـه د اقتصـادي فرصتونـو او د دې ترڅنـګ د کلیـوالي سـیمو د پراختیـا لامـل هـم ګرځـي؛ څکـه ډېـری خلـک د ښـارونو پرځـای پـه کلیـو او بانـډو کـې ژوند کـوي. د نویـو بندونـو جوړولو پروسـه پـه هېـواد کـې پېـږی مخکـې پیل شـوې خـو د بهرنیـو یرغلونـو، فسـاد او د حکومتونو د بدلـون او جګړو لـه کبله هر څـه د کاغـذ پـر مخ پاتـې شـوي او عملـي جنبـه یـې نـه ده غـوره کـړې. افغانسـتان کـې د کـمال خـان بند یـو لـه تاریخي بندونـو څخـه دی چـې کـولای شي د هېـواد د اوبـو پـه مهارولـو کـې سـتره ونـډه ولري. دغـه بند چـې د نیمـروز ولایت کې موقعیـت لـري، د هلمنـد پـر سـیند جـوړ شـوی دی. د جوړېـدو موخـه یـې هـم د هلمنـد سـیند پر اوبـو سر بېره د موسـمي بارانونـو د اوبـو راګرځـول دي. اسـلامي امـارت د اوبـو د مدیریـت پـه برخـه کـې کوټلـي ګامونه پورتـه کـړي دي او هڅه یې داده چـې د هېـواد اوبـه د بندونـو لـه لارې مهـار او پـه پـوره ډول ګټه ترې پورته کـړي. د کـمال خان بند د چارو په بشـپړېدو سره بـه د نیمـروز ولایـت پـه لسـګونه زره جریبـه شـاړې ځمکـې پـه کرنیـزو هغـو بدلـې او دلتـه بـه د کرکیلـې پـه برخـه کې شـته سـتونزې هـوارې شي. پـه همـدې موخـه د ریاسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغني بـرادر اخوند د روان ۱۴۰۲ لمریـز کال د وري/حمـل میاشـتې پـه لومـړۍ نېټـه د نیمـروز ولایـت تـه سـفر وکـړ. پـه دې سـفر کـې له محترم مـلا صاحـب سره د بهرنیـو چـارو وزیـر محـترم مولـوي امیر خـان متقي په ګډون یو شـمېر لوړ پـوړي چارواکي ملګـري وو او


د نیمروز له والي سره تر کتنې وروسته یې له کمال خان بند څخه هم لیدنه وکړه. د نیمروز ولایت له والي سره یې د دې ولایت د خلکو د اوبو ستونزو حل او کرنیزو ځمکو ته د اوبو رسولو په اړه خبرې وکړې. ورپسې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او مل پلاوي د کمال خان بند د توربینونو د نصبولو بهیر له نږدې وکوت او د اوبو ذخېرې ظرفیت د زیاتوالي، د اړوندو کانالونو د پاک کارۍ او په ټوله کې د چارو د ښه مدیریت په اړه یې مسؤلینو ته لازمې لارښوونې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کمال خان بند ملي او حیاتي پروژه وبلله او د رامنځته شویو نوښتونو له امله یې د مسؤلینو د هڅو قدرداني وکړ. په پای کې محترم ملا صاحب د بند د پارچاوۍ او د اوبو کنټرول په اړه د تخنیکي انجنیرانو نظرونه واورېدل او په اړه یې د اوبو او انرژۍ وزارت مسؤلینو ته هدایت وکړ چې د ستونزو د حل په برخه کې ورسره همکاري وکړي.

## د کمال خان بند د پاتې چارو پیل او پر ټاکلي وخت یې د پای ته رسېدو موخه:


موخه یې داده چې د اوبو بندونه د اقتصادي فرصتونو او د دې ترڅنګ د کلیوالي سیمو د پراختیا لامل ګرځي، د کمال خان بند په بشپړېدو به چې یو تاریخي او ستر بند دی هم اقتصادي فرصتونه پراختیا ومومي او هم به د کرنې د غوړېدو او پرمختګ لامل شي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د کمال خان بند پاتې چارې پیل او پر ټاکلي وخت پای ته د رسېدو» راپور یې خپور کړی دی**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د کمال خان بند پاتې چارو پیل او پر ټاکلي وخت د پای ته رسېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه





#### ټویټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ویبپاڼې



### تلویزیونونه





### په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د کمال خان بند د پاتې چارو پیل او پر ټاکلي وخت یې د پای ته رسېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا زمینه برابروي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو؛ نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. د کمال خان بند د پاتې چارو پیل او پر ټاکلي وخت یې د پای ته رسېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، ویبپاڼو، ټویټرپاڼو، اژانسونو او ویاندویانو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبت، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۳٦ دی. د دې نظرونو له جملې ٦٦۲مثبت دي. ۱۳۵منفي نظرونه او ۳۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۷۹ ٪، منفي ۱٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

۲. د کمال خان بند د پاتې چارو پیل او پر ټاکلي وخت یې د پای ته رسېدو په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې په ټولیز ډول خلکو ۲۳۵مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه څرګند کړي دي. د دې نظرونو له جملې ۱۵۳ مثبت، ۴۷ منفي او ۳۵سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۵٪، منفي نظرونه ۲۰٪ او سالم وړاندیزونه ۱۵٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۷۹ او په خصوصي رسنیو کې د دې نظرونو سلنه ٦۵ ته رسېږي. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په دې رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۰ خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۱٦ ده. د سالمو وړاندیزونو سلنه هم په خصوصي رسنیو کې تر دولتي رسنیو زیاته ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۵ او په دولتي رسنیو کې ۵ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۸۱۵ مثبت نظرونه، ۱۸۲ منفي نظرونه او ۷۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷٦ ٪ مثبت نظرونه، ۱۷ ٪ منفي نظرونه او ۷ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

لاملونه کېدای شي زیات وي، خو یو لامل یې دادی چې دولتي رسنۍ په حکومت پورې اړوند مهم موضوعات خپروي. د کمال خان بند د پاتې چارو بشپړېدل د حکومت دنده ده، نو له همدې امله دولتي رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو یې په زیاته کچه خبر خپور کړی دی. هر څومره چې نظرونه او وړاندیزونه زیات وي، نو دا په ډاګه کوي چې خلک هر څه ته متوجه دي او د حکومت هره کړنه څاري او په اړه یې خپل نظر شریکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده چې دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو ته رسېږي.

- د کمال خان بند د کانالونو باید جدي څارنه وشي. په کانالونو کې د کارېدونکو موادو دې پلټنه وشي، ځکه کله ناکله شرکتونه داسې مواد کاروي چې کیفیت یې ټیټ وي.
- د اباد افغانستان په هیله که موږ د شخصي ګټو پر ځای د ملي ګټو له پاره فکر وکړو، هغو ته کار وکړو، نو د ملي ګټو تر څنګ به مو شخصي ګټې هم خوندي وي. موږ باید یو بل ته لاسونه ورکړو او په ګډه خپل هېواد آباد کړو.
- د محترم ملا برادر اخوند سفرونه د ستایلو وړ دي،الله ج دې نور زموږ په هېواد کې جګړه نه راولي.
- د ختیځو ولایتونو خلک په دې ولایتونو کې د سړکونو، بندونو او روغتونونو په څېر د سترو او بنسټیزو پروژو د عملي کېدو غوښتونکي دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- **لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي، د کمال خان بند چې د اوبو مهارولو او کرنیز سکټور د ودې په برخه کې یوه ستره او حیاتي پروژه ده باید د رغونې چارې یې په جدي ډول وڅارل شي. په کانالونو کې د کارېدونکو موادو دې پلټنه وشي، ځکه کله ناکله شرکتونه داسې مواد کاروي چې کیفیت یې ټیټ وي. اسلامي امارت تر کمیت زیات کیفیت ته ارزښت ورکوي. نیمروز ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر او د کمال خان بند څخه لیدنه په همدې موخه ترسره شوه. د اسلامي امارت ټیټ پوړي او لوړ پوړي مسوولین په خپله دنده کې غفلت نه کوي، په تېره بیا په داسې سترو پروژو کې خو بیا د څارنې برخه هېڅکله هم له پامه نه غورځوي چې هغه دې د هېواد د پرمختګ په برخه کې رغنده رول ولري، لکه د کمال خان بند او دې ورته نورې سترې پروژې.
- **دویم**؛ یو شمېر خلکو بیا په خپلو نظرونو کې پر ملي یووالي د ټینګار ترڅنګ ویلي چې موږ باید له شخصي ګټو تېر او ملي ګټو ته ارزښت ورکړو. که داسې مو وکړل نو بیا به د هېواد ابادي او پرمختګ حتمي شي. هغه ملتونه تل بریالي او هېوادونه یې پرمختګ کوي چې دوی پر شخصي ګټو ملي ګټو ته ترجیح ورکړې. ځکه ملي ګټې د هېواد سوکالي، پرمختګ او ارامي تضمینوي او په شخصي ګټو کې بیا یوازې شخصي منافع پرتې دي. کوم ملتونه چې ملي ګټو ته یې په درنه سترګه کتلي دي هغوی اوس د نړۍ د پرمختللو ملتونو په کتار کې ولاړ دي. کوم ملتونه چې ملي ګټې تر شخصي ګټو قربانوي، هغوی بیا نه یوازې دا چې وروسته پاتې دي، بلکې

تـل یـې پـه ناخوالـو او سـتونزو سر وي. اسـلامي امـارت هـم تـل خپل ولس تـه د دې لاربـښوونه کړې چـې د پرمختګ او سـوکالۍ یوازینـۍ لار مـلي یووالـي او مـلي ګټـو ته ژمنتیـا ده. که چېرې دغـه دواړه په هېـواد کې رامنځتـه او خلک یې پـر ځـان عمـلي کـړي، نـو بیـا له شـک پرته چـې موږ بـه د یـوه پرمختللي، اباد او سـوکاله افغانسـتان شـاهدان واوسـو.

✍ **درېیـم؛** یـو شـمېر خلکـو وړاندیـز کـړی چـې پـه ختیځـو ولایتونـو کـې دې هـم د کـمال خـان بنـد پـه څېـر سـترې پـروژې پیـل شي. دا د خلکـو حـق دی چـې لـه خپـل حکومت څخه غوښـتنې ولـري او د حکومت بیا دا مسـوولیت دی چـې د خلکـو غوښـتنو تـه مثبـت ځـواب ووایـي. اسـلامي امـارت تل په یـوه خبره ټینـګار کـړی او کوي یې، هغـه داچې د بیارغونـې چـارې بایـد متوازنـې وي. همـدې اصـل تـه پـه کتـو یـې د هېـواد پـه کچـه سـترې او کوچنـۍ پـروژې پیل کـړې دي. پـه کومـو ځایونـو کـې چې کـوم ډول پروژو تـه اړتیا ده او کـولای شي د هېواد پرمختګ تضمیـن او اقتصادي ټیـکاو رامنځتـه کـړي، هماغـو تـه یـې لومړیتوب ورکـړی دی. پـه ختیځـو ولایتونـو کې هم ډېـرې پروژې پلې شـوې دي او پـر ځینـو یـې کار روان دی. د امکاناتـو او اړتیـا پـه صـورت کـې بـه هغـه سـترې پروژې هـم پیل شي چې ولسـونه یې غوښـتنه کوي.

د اسـلامي امـارت مشرتابـه هڅـه داده چـې د اقتصـاد د پیاوړتیـا له پاره لـه هرې ممکنـه لارې ګټه پورته کـړي. هغه که سـوداګري ده او کـه صـادرات او یـا هـم د کرنې برخـه ده. د دې ټولو ترڅنګ د هېواد د اقتصـادي ودې له پاره د بندونو جـوړول مهـم دي. د دې بندونـو لـه جملـې څخـه یـو هـم د کـمال خـان بنـد دی چـې د اوبـو مهارولـو ترڅنـګ کـولای شي زرګونـه جریبـه کرنیـزې ځمکـې خړوبـې او پـه نیمـروز ولایت کې شـته شـاړې دښـتې پـه کرنیزو ځمکـو بدلې دي. لـه دې سره بـه لـه یـوه لـوري د هېـواد کرنیـز سکټور وده وکـړي او له بـل لوري به مـو اقتصاد په پښـو ودرېـږي. همدې اصـل تـه پـه کتـو اسـلامي امـارت واک تـه له رسـېدو سره سـم دې برخې تـه زیاتـه پاملرنه کـړې ده. نیمـروز ولایت ته د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغني برادر اخوند د سـفر موخـه هم همدا وه. محـترم ملا صاحب پـه خپـل سـفر کـې د سیمه ییـزو مسـوولینو سره د لیدنـو کتنـو ترڅنـګ، د کـمال خـان بنـد هـم وکـوت. د یـاد بنـد د کتنـې پـر مهـال یـې لـه مسـوولینو وغوښـتل چې د بنـد پاتې چارې پـه لوړ کیفیـت او پر ټـاکلي وخت پای ته ورسـوي. موخـه یـې داده چـې د بنـد لـه بشـپړېدو سره بـه د دې ولایـت د کروندګرو د اوبو سـتونزه هـواره او د کرنې پـه برخه کې بـه پرمختـګ رامنځتـه شي. لـه دې څخـه جوتیـږي چـې اسـلامي امـارت تـر کومـه بریـده د سـترو او هغـو پـروژو عملي کېـدو تـه ژمـن دی چـې پر مټ یـې د افغانسـتان اقتصـاد او پرمختـګ دواړه تضمینېږي.

## پایله

د اوبو بندونه د اقتصادي فرصتونو او د دې ترڅنګ د کلیوالي سیمو د پراختیا لامل ګرځي. افغانستان هم په بېلا بېلو ولایتونو کې یو شمېر بندونه لري چې ځینې یې د برېښنا د تولید او ځینې بیا د ځمکو خړوبولو له پاره جوړ شوي دي. د دې بندونو له جملې څخه یو هم د کمال خان بند دی چې کولای شي د هېواد د اوبو په مهارولو کې ستره ونډه ولري. دغه بند چې په نیمروز ولایت کې موقعیت لري، د هلمند پر سیند جوړ شوی دی. د جوړېدو موخه یې هم د هلمند سیند پر اوبو سربېره د موسمي بارانونو د اوبو راګرځول دي. اسلامي امارت د اوبو د مدیریت په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي او هڅه یې داده چې د هېواد اوبه د بندونو له لارې مهار او په پوره ډول ترې ګټه پورته کړي. د کمال خان بند د چارو په بشپړېدو سره به د نیمروز ولایت په لسګونه زره جریبه شاړې ځمکې په کرنیزو هغو بدلې او د کرکیلې په برخه کې به شته ستونزې هوارې شي. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۲ لمریز کال د وري میاشتې په لومړۍ نېټه نیمروز ولایت ته سفر وکړ. په دې سفر کې محترم ملا صاحب د نیمروز له والي سره تر لیدنې وروسته له کمال خان بند څخه لیدنه وکړه. د نیمروز ولایت له والي سره یې د دې ولایت د خلکو د اوبو ستونزو حل او کرنیزو ځمکو ته د اوبو رسولو په اړه خبرې وکړې. ورپسې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او مل پلاوي د کمال خان بند د توربینونو د نصبولو بهیر وکوت او د اوبو ذخېرې ظرفیت د زیاتوالي، د اړوندو کانالونو د پاک کارۍ او په ټوله کې د چارو ښه مدیریت په اړه یې مسئولینو ته لازمې لارښوونې وکړې. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت د هېواد بیارغونې، پرمختګ او په تېره بیا اقتصادي ودې ته ځومره ژمن دی. که چیرې د اوس په شان اسلامي امارت خپلو اقتصادي، صنعتي، کرنیزو او سوداګریزو پلانونو ته د عمل جامه ور واغوندي، نو لرې نه ده چې افغانستان به د نړۍ یو له پرمختللو هېوادونو څخه وي.

# د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالګرو د نغدي او خوراکي توکو د مرستو ویش لړۍ پیل شوه




**سریزه:**

د ملتونو سترګې تل حکومتونو ته اوړي، هیله یې دا وي چې لاسنیوی یې وکړي. د ژوندانه ستونزې یې هواري او د یو سوکاله او ارام ژوند زمینه ورته برابره کړي. هغه حکومتونه چې د خپل ملت پر وړاندې د مسوولیت احساس کوي، هغه تل هڅه کوي چې خپل ملتونه له ستونزو لرې وساتي او د ژوند په هره برخه کې اسانتیاوې ورته برابرې او د هغو ملتونو په کتار کې یې ودروي چې پرمختللي او هوسا ژوند ولري. اسلامي امارت هم د خپلې دیني او انساني وجیبې له مخې ټولو هغو مسوولیتونو ته چې یو حکومت یې لري، پوره پاملرنه کړې ده. په دې برخه کې یې هلې ځلې کړې او تر کومه حده یې چې امکانات په لاس ورغلي دي، د خپل ملت لاسنیوی یې کړی دی. هېڅکله یې ملت له پامه نه دی غورځولی. د کابل ښار په ګډون په یو شمېر نورو ښارونو کې په نشه د روږدو کسانو راغونډول او بیا د هغوی درملنه او دغه راز له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولول او له هغوی سره مرسته د دې ادعا ښه ثبوت دی. د سوالګرو راټولول او له هغوی سره د مرستې له پاره د عالیقدر امیرالمومنین شیخ هبة‌الله اخوندزاده حفظه‌الله له فرمان سره سم د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو کمېټه جوړه او تر دې دمه یې د کابل ښار له بېلا بېلو سیمو په زرګونو سوالګر راټول کړي دي. دا لړۍ لا هم روانه ده. موخه یې د هغو سوالګرو لاسنیوی دی چې واقعاً مستحق دي او له ناچارۍ ورځې یې دې کار ته لاس اوږد کړی دی. په همدې


موخـه د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد پـه مـشرۍ پـه کابل ښـار کې د سـوالگرو راټولولـو کمېټـې لـه لـوري پـر ۳۰۰۰۰ مسـتحقو سـوالگرو د نغدي او خوراکـي توکو د مرسـتو وېش لړۍ پیل شـوه. له دې جملـې څخـه پـر ۲۰۰۰ سـوالگرو د نغدي او خوراکي توکو مرسـتې ووېشـل شـوې. محـترم ملا صاحب په همدې مناسـبت جـوړې شـوې غونـډې تـه د خپلـو خبرو پـر مهال د سـوالگرو راټولولو پروسـه مهمه وبللـه او زیاته یې کړه، اسـلامي امارت ته د ولـس او پـه تیـره بیـا د بـې وزلـو هېوادوالو لاسـنیوی مهـم دی. په همدې خاطر اسـلامي امـارت د افغانسـتان د پرمختګ او د خلکـو اقتصـادي سـتونزو د هـواري لـه پاره هڅې کوي. د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتیال زیاته کړه چې د سـوالگرو راټولولـو کمېټـه بـه خپـل کار ته دوام ورکړي او په راټولو شـویو مسـتحقو سـوالگرو به د مرسـتو د وېش لړۍ هـم دوام ولري. محـترم مـلا صاحـب پـر مرسـتندویه ټولنـو او مـلي سـوداگرو غـږ وکړ چـې د افغانسـتان د اړمنو خلکو لاسـنیوی وکـړي او له هغـوی څخـه دې خپلـې مرسـتې نـه سـپموي. د ریاست الـوزراء اقتصادي مرسـتیال یو ځل بیا له بـې وزلـو هېوادوالو او په تېـره بیـا لـه کابل ښـار څخه د راټولو شـویو مسـتحقو سـوالگرو سره د اسـلامي امـارت له لـوري د مرسـتو د دوام ډاډ ورکړ.

### د سوالگرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالگرو د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ د پیلېدو موخه:


اصلـي موخـه د سـوالگرو سـترې معضلـې تـه پای ورکـول او کوم کسـان چې د ناچارۍ ورځـې یې دې کار تـه لاس غځولی، د هغوی لاسـنیوی دی.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د سوالگرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالگرو د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ د پیلېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالګرو د نغدي او خوراکي توکو د مرستو ویش لړۍ د پیلېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټویټرپاڼې





#### ویاندویان




#### ورځپاڼې



### تلويزيونونه




### په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ويبپاڼې





### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالګرو د نغدي او خوراکي توکو مرستو د وېش لړۍ د پیلېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې موضوع ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. د سوالگرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالگرو د نغدي او خوراکي توکو مرستو د وېش لړۍ د پیلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ورځپاڼو، اژانسونو او ټوېټرپاڼو په گډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۳۸ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۲۴ مثبت دي. ۸۱ منفي نظرونه او ۳۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۵ ٪، منفي ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

۲. د سوالگرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالگرو د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ د پیلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۰۷۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۵٦۷ مثبت، ۳۵۳ منفي او ۱۵۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۳ ٪، منفي نظرونه ۳۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۵ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۵۳ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۳۳ او په دولتي کې دا سلنه ۱۱ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۱۹۱ مثبت نظرونه، ۴۳۴ منفي نظرونه او ۱۸۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ٦٦ ٪ مثبت نظرونه، ۲۴ ٪ منفي نظرونه او ۱۰ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بربېده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د سوالگرو راټولولو کمېټې له لوري پر ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالگرو د نغدي او خوراکي توکو مرستو د وېش لړۍ د پیلېدو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم خلکو مثبت نظرونه ورکړي دي چې سلنه یې ۵۳ ته رسېږي. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري پورته شوی هر گام کره څاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده چې دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د اسلامي امارت له مهمو کارونو څخه یو هم د معتادینو راټولول، دمخدره توکو پلورونکو نیول او د سوالګرو راټولول دي او دا ټول د ستاینې وړ کارونه دي.
- د سوال کولو لوی لامل دا دی چې بې کاري موجوده ده، تر څو چې بې کاري له منځه ولاړه نه شي او خلکو ته د کار زمینه مساعده نه شي، نو خلک د سوال کولو څخه نه اوړي.
- باید په کابل بسنه ونه شي پکتیا مرکز ګردیز کې هم سوالګر ډېر دي، باید د دې خلکو یوه چاره وشي.
- د اسلامي امارت دوه کارونه د ستاینې وړ دي، یو په نشه یي توکو د روږدو کسانو راغونډول او د هغوی درملنه او بل له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولول او بیا یې پر مستحقو هغو د مرستو وېشل.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ د خلکو په نظرونو کې د اسلامي امارت دا ګام بې ساری بلل شوی او ویل شوي د سوالګرو او ترخنګ یې پر نشه یي توکو د روږدو کسانو راغونډول او عادي ژوند ته یې ستنول، د ټولنې د هغه قشر لاسنیوی دی چې له دې وړاندې ورته چا پام نه دی کړی. په رښتیا هم چې د اسلامي امارت دا ګام بې ساری ځکه دی چې له دې وړاندې نه سوالګرو ته او نه هم په نشه یي توکو روږدو کسانو ته حکومتونو پاملرنه کړې وه. دغه دواړه له پامه غورځېدلي وو. د سوالګرو په منځ کې ډېری هغو یې د ناچارې ورځې دې کار ته لاس اچولی و. خو اسلامي امارت دغه دواړو ته پام وکړ. لومړی یې له کابل ښار څخه د سوالګرو په راټولو پیل وکړ او بیا یې په نشه یي توکو روږدو کسانو راغونډولو او د هغوی درملنې ته مخه کړه. په راټولو شویو سوالګرو کې مستحق او حرفوي یو له بل څخه جلا شول او له مستحقو سوالګرو سره د اسلامي امارت له لوري د شوې ژمنې سره سم چې له دې کسانو سره به دوامداره مرستې کوي پر یادو کسانو د مرستو د وېش لړۍ پیل شوه. په راټولو شوو سوالګرو کې ۳۰۰۰۰ کسان مستحق بلل شوي دي. د دې کسانو له ډلې څخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو کمیټې له لوري په ۲۰۰۰ کسانو نغدي او د خوراکي توکو مرستې وویشل شوې. له دې سره به د ډېری هغو سوالګرو اقتصادي ستونزې هوارې شي چې له مجبورۍ ورځې یې دې کار ته مخه کړې وه.

✍ **دویم**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د سوال کولو لاملونو ته په اشارې ویلي، د سوال تر ټولو ستر لامل بې کاري ده، تر څو چې بې کاري له منځه ولاړه نه شي او خلکو ته د کار زمینه مساعده نه شي، خلک له سوال کولو نه لاس په سر کېږي. د خلکو دا نظر څکه د پام وړ دی چې خلکو ته د کار روزگار برابرولو مسوولیت د حکومتونو پر غاړ دی او حکومتونه د دې ستونزې د هواري مسوولیت لري. اسلامي امارت د یوه مسوول حکومت په توگه دا هر څه درک کړي دي او همدې ټکو ته په پاملرنې یې هڅې پیل کړې دي چې د هېواد په کچه د بې کارۍ ستونزې ته پای ورکړي. اسلامي امارت ددې له پاره تر ټولو غوره لار د بیارغونې د سترو، کوچنیو او متوسطو پروژو پلي کېدل بولي. له همدې امله یې د هېواد په زیاترو سیمو کې د بیارغونې پروژې پیل کړې دي، څو له دې لارې هېوادوالو ته د کار روزگار زمینه برابره شي. د دې ترڅنگ یې د صنعت او کرنې برخو ته هم پاملرنه کړې ده. هڅه کوي چې د دولت په چوکاټ کې شته صنعتي فابریکې چې د جگړو او د تېرو حکومتونو د نه پاملرنې له امله یې چارې په ټپه دریدلې وې، بېرته ورغوي او فعالې یې کړي. د دې غوره بیلگه د غوري د سیمنټو فابریکه، سپین زر دولتي شرکت او داسې نورې فابریکې دي. دغه راز اسلامي امارت د کورنیو صنعت کارانو له پاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړې دي، څو هغوی خپل تولیدات زیات کړي او له دې سره خلکو ته د کار زمینه برابره شي.

✍ **دریېم**؛ یو شمېر خلکو بیا وړاندیز کړی دی چې د سوالگرو راټولو پروسه دې پر کابل سربېره په نورو ولایتونو کې هم پیل شي. باید په کابل بسنه ونه شي. د پکتیا په مرکز گردیز کې هم سوالگر ډېر دي، باید د دې خلکو یوه چاره وشي. اسلامي امارت پلان لري چې دا پروسه نورو ولایتونو ته وغځوي او اوس عملاً پر کابل سربېره په کندهار، ننگراهار، هرات، بلخ، کنړ، نورستان، لوگر، خوست او پکتیا ولایتونو کې د سوالگرو راټولو پروسه پیل شوې چې زرگونه سوالگر یې راټول کړي دی. د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټینگار کړی چې دوی د افغانستان مظلوم ملت د لاسنیوي له پاره خپلې هلې ځلې کوي. دوی په خپلو خبرو کې ویلي چې باید په خپلو هڅو سره خپل ملت له احتیاجه خلاص او افغانستان په هره برخه کې خودکفا کړي.

## پایله

د ملتونو سترګې تل حکومتونو ته اوړي. هیله یې دا وي چې لاسنیوی یې وکړي. د ژوندانه ستونزې یې هوارې او د یو سوکاله او ارام ژوند له پاره ورته زمینه برابره کړي. هغه حکومتونه چې د خپل ملت پر وړاندې د مسوولیت احساس کوي، هغه تل هڅه کوي چې خپل ملتونه له ستونزې لرې وساتي او د ژوند په هره برخه کې اسانتیاوې ورته برابرې او د هغو ملتونو په کتار کې یې ودروي چې پرمختللي او هوسا ژوند لري. اسلامي امارت هم د خپلې دیني او انساني وجیبې له مخې ټولو هغو مسوولیتونو ته چې یو حکومت یې لري، پوره پاملرنه کړې ده. په دې برخه کې یې هلې ځلې کړې او تر کومه حده یې چې امکانات په لاس ورغلي دي، د خپل ملت لاسنیوی یې کړی دی. هېڅکله یې ملت ته شا نه ده اړولې او نه یې له پامه نه دی غورځولی. د کابل ښار په ګډون په یو شمېر نورو ښارونو کې په نشه د روږدو کسانو راغونډول او بیا د هغوی درملنه او دغه راز له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولول او له هغوی سره مرسته ددې ادعا ښه ثبوت دی. اسلامي امارت اوسمهال د ۳۰۰۰۰ مستحقو سوالګرو څخه پر ۲۰۰۰ یې نغدي او د خوراکي توکو مرستو د ویش لړۍ پیل کړه. په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال د سوالګرو راټولولو پروسه مهمه وبلله او زیاته یې کړه چې اسلامي امارت ته د ولس او په تیره بیا د بې وزلو هېوادوالو لاسنیوی مهم دی. په همدې خاطر اسلامي امارت د افغانستان د پرمختګ او د خلکو د اقتصادي ستونزو د هواري له پاره هڅې کوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې د سوالګرو راټولولو کمیټه به خپل کار ته دوام ورکړي او په راټولو شویو مستحقو سوالګرو به د مرستو د وېش لړۍ دوام ولري. اسلامي امارت دې کار ته ژمن دی او هڅه یې داده چې د امکاناتو او بودیجې له چمتو کولو وروسته دا لړۍ د هېواد نورو برخو ته هم وغځوي او د هېواد په کچه د هغو کسانو لاسنیوی وکړي چې د مجبورۍ ورځې یې د سوال ناوړه کار ته لاس اوږد کړی دی.

# افغانستان او ازبیکستان یو شمېر سترې پروژې په ګډه پرمخ بیايي



## سریزه:

افغانستان له کلونو را هېسې له بحران، جګړې او بهرني یرغل سره لاس او ګریوان دی، دې ناخوالو نه یوازې دا چې د هېواد اقتصادي شیرازه له منځه وړې ده، بلکې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې یې هم افغانستان له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. وروسته له هغه چې امریکا په افغانستان کې ماتې وخوړه او دا هېواد خپلواک شو، اسلامي امارت له ګاونډیو هېوادونو، سیمې او نړۍ سره د سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې اړیکو ټینګولو او مثبت تعامل ته مخه کړه. هڅه یې داده چې د اړیکو له لارې سیاسي، اقتصادي، سوداګري او نورې برخې پیاوړې کړي. په دې برخه کې لومړی له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو لړۍ پیل شوې ده. په دې هېوادونو کې د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او یو شمېر نور هېوادونه شامل دي. د اړیکو په دې سلسله کې یو شمېر هېوادونه دېته چمتو شوي دي چې له اسلامي امارت سره ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې او په خپلو هېوادونو کې سفارتونه اسلامي امارت ته وسپاري. دا لړۍ لا هم روانه ده. اسلامي امارت لا هم هڅه کوي چې خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي. په همدې موخه د همسایه او سیمې هېوادونو لوړ پوړي پلاوي افغانستان ته سفرونه کوي او هڅه کوي تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې پیاوړې شي. په دې لړ کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي دولتي پلاوي د ازبیکستان د ملي امنیت شورا سلاکار او په بهرني سیاست کې د دغه هېواد د ولسمشر ځانګړي استازي عبدالعزیز کاملوف په مشرۍ پلاوي سره په ګلخانه ماڼۍ کې وکتل. په لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیټي، اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه هراړخیزې

خبرې وشوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانستان اسلامي امارت په تېر یو نیم کال کې له ازبیکستان سره په سیاسي او اقتصادي برخه کې ښې اړیکې درلودې او اسلامي امارت د دغو اړیکو د لا پراختیا لپاره هڅې کوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «افغانستان د سویلې او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د پَله حیثیت لري او که له دغه ستراتیژیک موقعیت څخه ښه استفاده وشي، دا به د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په سوداګرۍ او ترانزیټ برخه کې مهم رول ولوبوي. زه باور لرم چې افغانستان او ازبیکستان خپلو اړتیاوو او شته فرصتونو ته په کتو په سیمه کې دوه اغېزناک اقتصادي شریکان جوړېدای شي.»


د ازبیک پلاوي مشر عبدالعزیز کاملوف وویل، دوی په نړیوالو فورمونو او غونډو کې له افغانستان څخه ملاتړ کړی دی او په هر حالت کې یې د افغانستان د ګټو خوندي کولو لپاره هڅې کړې دي. ښاغلي کاملوف زیاته کړه، دوی پر ډېرو بنسټیزو پروژو سربېره چمتو دي چې د قوش‌تېپې له کانال څخه د اعظمي ګټې اخیستلو په موخه له اسلامي امارت سره د خپلو تخنیکي ټیمونو په واسطه ګډ کار او همکاري وکړي. په دې لیدنه کې پر دوه اړخیزه سوداګرۍ هم خبرې وشوې او وویل شول چې د ۱۴۰۱لمریز کال په لومړیو ۹میاشتو کې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه ۲۲۵مېلیونه ډالره وه، خو دا کچه به په ۱۴۰۲ لمریز کال کې یو مېلیارد ډالرو ته ورسېږي. دغه راز په ناسته کې د یو لړ پروژو په اړه هم بحث وشو. په دې پروژو کې، د ترمز- مزارشریف - کابل او پېښور ترمنځ د ریل پټلۍ غځیدلو او د سرخان پلخمري ۵۰۰ کیلو ولټه وارداتي برېښنا پروژې شاملې دي. دغه پروژې د دواړو هېوادونو له لوري په ګډه پرمخ بیول کېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې پرمهال د سوداګرۍ، کرنې، پراختیایي پروژو، د اوبو مدیریت او سیمه‌ییز اتصال په برخو کې د ګډو تخنیکي کمېټو پر جوړېدو هم هوکړه وشوه. همدا راز ازبیکستان ډاډ څرګند کړ چې افغانستان ته د صادراتي برېښنا کچه د قرارداد مطابق تنظیموي او دغه راز به په نږدې راتلونکي کې په کابل، مزارشریف او ترمز کې د دواړو هېوادونو د تولیداتو نندارتونونه هم جوړ شي.

## د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د یو شمېر سترو پروژو پر مخ بېولو موخه:

موخه یې د افغانستان بیارغونه ده او اسلامي امارت هڅه کوي چې سترې پروژې د سیمې له هېوادونو سره په ګډه پرمخ بوځي، څو له یوه لوري د سیمې له هېوادونو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي او له بل لوري د پروژو په لګښت کې کموالی راولي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې د «افغانستان او ازبیکستان د یو شمېر سترو پروژو په ګډه پرمخ بېولو» خبر یې خپور کړی دی:**


## الف: دولتي رسنۍ:




## ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې افغانستان او ازبیکستان د یو شمېر سترو پروژو په ګډه پرمخ بیولو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### راډیوګانې





### تلویزیونونه





### ورځپاڼې





### وياندويان





### ټویټرپاڼې




### ویب پاڼې



## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونـو ارزونــې ټولګـه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




# افغانستان او ازبیکستان د یو شمېر سترو پروژو په ګډه پرمخ بېولو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیـزو شـبکو کـې د خلکو مثبتـو، منفـي نظرونـو او وړاندیزونـو څېړنـه او ارزونـه د خلکـو نظرونـو روښـانتیا او هغـو تـه د پاملرنـې پـه مانـا ده. د دې موضـوع ارزونـه او خپـرول خلکـو او ټولنـې تـه دا فرصـت پـه لاس ورکـوي چـې د حکومـت د پرېکـړو، کړنـو او پـروژو پـه اړه خپـل نظرونـه، غوښـتنې، نیوکـې او وړاندیزونـه شریـک کـړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

. افغانستان او ازبیکستان د یو شمېر سترو پروژو په ګډه پرمخ بېولو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، خبري اژانسونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۴۶۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۳۶مثبت دي. ۱۵۸منفي نظرونه او ٦٧ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۵ ٪، منفي ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

۲. افغانستان او ازبیکستان د یو شمېر سترو پروژو په ګډه پرمخ بېولو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۱۹۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۳۰ مثبت، ۲۴۹ منفي او ۱۱۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۰ ٪، منفي نظرونه ۲۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۹ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۵، او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۰ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه ۹ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۴ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۰٦٦ مثبت نظرونه، ۴۰۷ منفي نظرونه او ۱۸۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۸ ٪ مثبت نظرونه، ۱۵ ٪ منفي نظرونه او ۷ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل يې څه دی؟

یو لامل يې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. افغانستان او ازبیکستان د یو شمېر سترو پروژو په ګډه پرمخ بېولو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- له نړۍ او په ځانګړي ډول له ګاونډیانو سره په سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو برخو کې د اړیکو ټینګول د دواړو لوریو په ګټه دي، هغه هېوادونه چې یو له بل سره ګډې پولې لري، باید د خپلو سیاسي اړیکو ترڅنګ اقتصادي او سوداګریزو اړیکو ته هم پراختیا ورکړي.
- امو سیند چې د بدخشان د پامیر له غرونو څخه سرچینه اخلي افغانستان يې د حق‌آبې په اړه کوم هېواد سره توافقنامه نه لري، ځکه دا د افغانانو خپلې اوبه دي. هېڅ هېواد د دې حق نه لري چې د اوبو حق غوښتنه وکړي.
- د افغانستان ګاونډیانو د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان له اوبو څخه پوره ګټه پورته کړې ده. اوس هم د امو سیند کې د افغانستان چې څومره حق دی هغه یې نه دی ترلاسه کړی او د قوش تېپې کانال په جوړېدو هم د افغانستان حق‌آبه نه پوره کېږي یانې زموږ چې څومره اوبه حق دي هغه اوس هم د منځنۍ اسیا هېوادونو ته ورځي.
- د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ ډیپلوماټیکې ناستې او د پلاویو تګ راتګ ښه خبره ده. په دې سره د دواړو هېوادونو ډېری ستونزې حل کېدای شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ خلکو د یاد خبر په اړه په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې له نړۍ په ځانګړي ډول ګاونډیانو سره په سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو برخو کې د اړیکو ټینګول د دواړو لوریو په ګټه دي، هغه هېوادونه چې یو له بل سره ګډې پولې لري، باید خپلو سیاسي اړیکو ترڅنګ اقتصادي او سوداګریزو اړیکو ته هم پراختیا ورکړي. د دوی دا خبره پر ځای ده، ځکه نن ورځ نړۍ د یوه کلي بڼه خپله کړې ده او هېڅ هېواد پرته له دې چې له نورو په تېره بیا ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې ونه لري، نه شي توانیدلی پرمختګ وکړي. هر هېواد بل هېواد ته اړتیا لري او کولای شي د یو بل له اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیټي فرصتونو څخه ګټه پورته کړي. اسلامي امارت هم خپل سیاستونه داسې تنظیم کړي دي چې پورتنې ټکي له ځان سره لري. اسلامي امارت بیا بیا ویلي دي چې دوی د نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره پر متقابل احترام ولاړ تعامل ته چمتو دي. په دې اړه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ازبیکستاني پلاوي سره په لیدنه کې دې ټکي ته اشاره کړې ده. محترم ملا صاحب وویل، افغانستان د جنوبي او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د پُله حیثیت لري او که له دغه ستراتیژیک موقعیت څخه ښه استفاده وشي، دا به د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په سوداګرۍ او ترانزیټ برخه کې مهم رول ولوبوي. زه باور لرم چې افغانستان او ازبیکستان خپلو اړتیاوو او شته فرصتونو ته په کتو په سیمه کې دوه اغېزناک اقتصادي شریکان جوړېدای شي.

✍ **دویم**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د هېواد پریمانه اوبو ته په پاملرنې سره د دې یادونه کړې ده چې په تېر کې افغانستان کې د سیاسي بې ثباتۍ له امله دا پرېمانه اوبه وړیا ګاونډیو هېوادونو ته بهیدلې او هغوی ترې ګټه پورته کوله، خو اوس چې په هېواد کې یو خپلواک نظام رامنځته شوی او د چا تر فشار لاندې نه دی او نه هم چا ته د دې اجازه ورکوي چې د هېواد ملي ګټې وتروړي، نو هڅه کوي چې خپلې اوبه مهار او مدیریت کړي. د افغانستان ګاونډیانو د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان په اوبیزو حوزو کې له هغه زیاتې اوبه ترلاسه کړې دي چې د دوی حق دی. اوس هم د امو سیند کې د افغانستان چې څومره حق دی هغه یې نه دی ترلاسه کړی او د قوش‌تېپې د کانال په جوړېدو هم د افغانستان حق‌آبه نه پوره کېږي. له دې څخه جوتېږي چې خلک له اسلامي امارت څخه د خپلو اوبو د پوره مدیریت غوښتنه کوي. اسلامي امارت هم په دې برخه کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي او په متین عزم سره غواړي د هېواد اوبه په بشپړ ډول مدیریت او د برېښنا په ګډون د کرنې په برخه کې ترې ګټه پورته او هېواد په دې برخو کې پر ځان بسیا کړي. خو هېڅکله داسې ګام نه پورته کوي چې هغه دې د اوبو د حق‌آبې په برخه کې له نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې وي. اسلامي امارت نړیوالو قوانینو او د حقې‌آبې هوکړه لیکونو ته چې له ځینو ګاونډیو هېوادونو سره یې لري، په پاملرنې خپلې اوبه مهاروي او ګټه ترې پورته کوي.

## پایله

افغانستان له کلونو را هېسې له بحران، جګړې او بهرني یرغل سره لاس او ګرېوان و، دې ناخوالو نه یوازې دا چې د هېواد اقتصادي شېرازه له منځه وړې ده، بلکې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې یې هم افغانستان له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. د امریکا له ماتې سره سم اسلامي امارت له همسایه، سیمې او نړۍ هېوادونو سره سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې اړیکو ټینګولو او مثبت تعامل ته مخه کړه. هڅه یې داده چې د اړیکو له لارې سیاسي، اقتصادي، سوداګریزې او نورې برخې پیاوړې کړي. په دې برخه کې له هر څه وړاندې له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو ټینګولو لړۍ پیل شوې ده. په دې هېوادونو کې د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او یو شمېر نور هېوادونه شامل دي. باالمقابل ګاونډیو هېوادونو هم له افغانستان سره د خپلو اړیکو پراختیا ته مخه کړې ده او په دې لړ کې د ګاونډیو هېوادونو یو شمېر لوړپوړیو پلاویو افغانستان ته سفرونه کړي دي. په دې لړ کې په دې وروستیو کې د ازبیکستان د ملي امنیت شورا سلاکار او په بهرني سیاست کې د دغه هېواد د ولسمشر ځانګړي استازي عبدالعزیز کاملوف په مشرۍ د ازبیکستان هېواد لوړپوړی پلاوی افغانستان ته راغلی و او د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ورسره وکتل. په لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیټي، اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې. په ناسته کې پر دوه اړخیزه سوداګرۍ او یو لړ پروژو خبرې اترې وشوې. په دې پروژو کې د ترمز- مزارشریف - کابل او پېښور ترمنځ د ریل پټلۍ غځېدلو او د سرخان پلخمري ۵۰۰ کیلو ولټه وارداتي برېښنا پروژې شاملې دي چې چارې یې د دواړو هېوادونو له لوري په ګډه پرمخ بیول کېږي. اسلامي امارت تل ویلي دي چې دوی له نړۍ په ځانګړې ډول ګاونډیو هېوادونو سره د ښو اړیکو او غوره تعامل غوښتونکي دي. له ازبیکستان هېواد سره په ګډه د سترو او زیربنایي پروژو پرمخ بېول د دې ډول اړیکو د ټینګښت ښکاره بېلګه ده. خو دا یوازې د افغانستان په ګټه نه، بلکې د ګاونډیانو، سیمې او نړۍ په ګټه دي. له افغانستان سره د اړیکو په رامنځته کېدو سره نړۍ او په ځانګړې ډول د سیمې هېوادونه کولای شي د افغانستان له جیوپولټیک موقعیت څخه په ګټې اخیستنې، خپلو سوداګریزو فعالیتونو ته پراختیا ورکړي. د سوداګرۍ د پراختیا په رامنځته کېدو سره اقتصادي پرمختګ هم شونی دی. خو د تعامل پر ځای فشار ته مخ کول او یا هم پر نورو د خپلې خبرې منل دا بیا د هېچا په ګټه نه دي. په داسې کارونو او بې ځایه فشارونو سره په نړۍ کې مېشت هېوادونه د دې پر ځای چې سره نږدې او خپلې اړیکې پراخې کړي، یو له بله لرې او له ناخوالو سره مخ کېږي. ښه خبره داده چې په نړیواله کچه په تېره بیا ګاونډي هېوادونه یو له بل سره د نړیوالو قوانینو او معیارونو په رڼا کې خپلې شته ستونزې هوارې او د تعامل لار غوره کړي.

# د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دویم سړک چارې به په وخت پای ته ورسېږي





## سریزه:

د حکومت او ملت ترمنځ دوه اړخیز باور او ملاتړ زیات ارزښت لري. خو دا باور او ملاتړ هغه مهال رامنځته کېدای شي چې حکومتونه خپل مسوولیتونه په بشپړ ډول ترسره کړي. ملت له اقتصادي ستونزو راوباسي، د سوکاله او ارامه ژوند شرایط ورته برابر کړي. دا هغه مهال شونې ده چې حکومتونه تر ټولو لومړی د هېواد ابادۍ، اقتصادي ودې، امنیت، ټولنیزو خدمتونو او داسې نورو ته خپله پاملرنه واړوي. تر ټولو زیات ارزښت چې لري هغه اقتصادي وده او د هېواد ابادي دي. که چېرې په دغو برخو کې پرمختګ وشي، نو بیا د هېواد پرمختګ تضمینېږي او دا د هېوادوالو یوازینۍ ارزو او هیله ده. اسلامي امارت دې دواړو برخو ته پوره پاملرنه کړې ده او په دې برخه کې یې خپل کارونه چټک کړي دي. د اقتصاد له غوړېدو سره هممهاله یې په هېواد کې د هغو زیربنایي پروژو عملي کېدو ته هم مخه کړې ده چې کولای شي د هېواد اقتصاد پیاوړی او په ډېرو برخو کې هېواد پر ځان بسیا کړي. د همدې لړۍ یوه برخه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت او اقتصادي کمېسیون دی چې ریاست یې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي. د اقتصادي کمېسیون غونډو کې د اقتصادي موضوعاتو ترڅنګ د هېواد د بیارغونې په برخه کې د بنسټیزو پروژو پر عملي کېدو هم خبرې او په اړه یې پرېکړې کېږي. د یاد کمېسیون د ۱۴۰۲ لمریز کال د وري میاشتې د ۲۴مې نیټې په غونډه کې پرېکړه وشوه چې اړوند وزارتونه او اداري دې د بودیجې له توشیح وروسته د فراه ولایت د بخش آباد او نیمروز ولایت د کمال خان بندونو د پاتې چارو د بشپړولو چارې ګړندۍ کړي. د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې د


عایداتي منابعو د فعالولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث والقران مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه الله د فرمان د تطبیق، افغانستان ته د غیر قانوني او بې کیفیته خوړو او درملو د واردېدو د مخنیوي، د جوزجان ولایت قوش تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسولو او د کابل ښاروالۍ له خوا د بهزاد سینما اړوند ساحې، د بهزاد سینما مقابل ساحې او په درېیم مکروریانو کې د قاضي پلازا شاته د ځمکو د عامه او خصوصي مشارکتي طرحو قراردادونو په اړه خبرې وشوې او په اړه یې وړ تصمیم ونیول شول. د یاد کمېسیون له پرېکړې سره سم د کابل ښاروالۍ له لوري د خیرخانې کوتل سړک د دوهمې برخې د جوړېدو پروژه د ریاست الوزراء اقتصاد مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوه. محترم ملا صاحب د دې پروژې د پرانیستو مراسمو ته وویل؛ کابل ښاروالي د ښار د ښکلا، منظموالي په برخه کې هڅې کوي او د پخوا په پرتله د ښار ښه منظمه شوې، موږ یې هڅې ستایو او پر هېوادوالو غږ کوو چې د عام‌المنفعه پروژو په ساتلو کې له حکومت سره همکاري وکړي. د خیرخانې کوتل سړک دوهمه برخه چې د ۳۷۰ مېلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي، ۳۷۱۰ متره اوږدوالی، ۲۷ متره سور، ۷۸۵۰ متره کانکرېټي ویاله او د موټرو ۱۱ تمځایونه لري چې چارې به یې په لسو میاشتو کې بشپړې او یاد سړک به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان د صنایعو او معدنونو خونې له مسؤلینو او ملي سوداګرو سره وکتل او له شبرغان تر الوان دښتې او له الوان دښتې د کابل تر ارغندۍ پورې د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا د مزي غځولو پروژې د تمویل په اړه یې ورسره خبرې وکړې. د افغانستان د صنایعو او معدنونو خونې مسؤلینو له شبرغان تر الوان دښتې او له هغه ځایه بیا د کابل تر ارغندۍ پورې د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا د مزي د غځېدو د پاتې چارو د بشپړېدو د تمویل په برخه کې خپله همکاري وښوده او ویې ویل چې د خپلو برېښنا په بېلونو کې به د افغانستان برېښنا شرکت ته لس سلنه زیاتې پیسې ورکوي. څو له دې پیسو څخه د یادې پروژې د تمویل په برخه کې ګټه پورته شي.

## د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دوهم سړک چارو په وخت پای ته رسېدو موخه:


موخه یې روښانه ده چې د دې بندونو په بشپړېدو سره به په زرګونه جریبه شاړې ځمکې پر کرنیزو ځمکو بدلې او تر څنګ به یې د ابادو ځمکو د اوبخور په برخه کې هېوادوال له ستونزو خلاص شي. دغه راز د خیرخانې کوتل د سړک د دوهمې برخې د جوړېدو پروژې موخه د ترافیکي ګڼې ګوڼې له منځه وړل او خلکو ته د اسانتیاوو رامنځته کول دي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دوهم سړک چارو پر وخت پای ته رسېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دوهم سړک چارو په وخت پای ته رسېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### ویب پاڼې





### ټویټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې




### اژانسونه



## په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ويبپاڼې





### آژانسونه




### ورځپاڼې




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دویم سړک چارو په وخت پای ته رسېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټویټر پر ځای فیسبوک کاروي. خو په ټویټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فیسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښتنې لاندې راوستو په موخه په فیسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دوهم سړک چارو په وخت پای ته رسېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ورځپاڼو، اژانسونو، ویبپاڼو او ټویټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۴۵۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۹۹ مثبت دي. ۱۱۵منفي نظرونه او ۳۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه۳ ٪ دي.

۲. د بخش اباد او کمال خان بندونو او د خیرخانې کوتل دوهم سړک چارو په وخت پای ته رسېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۰۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۳۳ مثبت، ۱۰۵ منفي او ۷۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۷ ٪، منفي نظرونه ۲۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۹ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۵۷ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۶ او په دولتي کې دا سلنه ۸ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۳۲ مثبت نظرونه، ۲۲۰ منفي نظرونه او ۱۰۷ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۲ ٪ مثبت نظرونه، ۱۲ ٪ منفي نظرونه او ٦ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره برېده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د بخش اباد او کمال بندونو پاتې چارو پر وخت پای ته رسېدو او د خیرخانې کوتل سړک د دوهمې برخې د جوړېدو پروژې خبر هم پر حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم خلکو مثبت نظرونه ورکړي دي چې سلنه یې ۵۷ ته رسېږي. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري پورته شوی هر گام کره څاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده چې دلته موږ یوازې د گوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونو بلکې سلگونو ته رسېږي.

- هغه خدمتونه چې د کابل تیرې اداري د مېلیاردونو ډالرو بهرنیو مرستو په ترلاسه کولو ترسره نه کړل، خو اسلامي امارت د اقتصادي بندیزونو سره سره وتوانېد چې داسې سترې پروژې عملي کړي.
- د افغانستان اسلامی امارت مشران باید د گران هېواد ستره شتمني یعنې اوبه مهار کړي، د هېواد ځوانان کولای شي په خپل متو هېواد آباد کړي.
- نیک اقدام دی الله تعالی دې د افغانستان اسلامي امارت ته توفیق ورکړي چې هېواد مو گل او گلزار کړي.
- د وردگو د چگ بند او د فابریکې پاتې کارونو ته دې هم جدي توجه وشي. د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د سورطاق بند دې جوړ شي چې د ټول هېواد لپاره بسنه کوي. په هېواد کې دې پر نورو هغو پروژو هم کارونه شروع شي چې کارونه یې نیمگړي پاتې دي.
- الله تعالی مو تر ډېره ژوندي لره دا ډېر غوره تصمیم دی چې په پلي کېدو سره به یې زرگونه جریبه ځمکه خړوبه او زرگونو کسانو ته به د کار زمینه برابره شي.
- د کابل ښار د خیرخانې کوتل چې پخوا د زورواکو له لوري غصب شوی و او چاته یې د دې اجازه نه ورکوله چې غځیدلی سړک پراخ کړي. په دې ساحه کې سختې ستونزې وې او سړک به د ساعتونو له پاره د گنې گونې له امله بند و. خو اوس چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی دی، د قدرت جزیرې ختمې شوې او ښاري پلان مخ په عملي کېدو دی. د خیرخانې د دوهم سړک په جوړېدو سره به د لارې بندښت پای ته ورسېږي. دا یو نیک اقدام دی.

**په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهم موضوعات د پام وړ دي:**

✍ **لومړی**؛ د خلکو په نظرونو کې د اسلامي امارت له لوري د کمال خان او بخش اباد بندونو د پاتې چارو د بشپړېدو تود هرکلی شوی دی. دوی په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د افغانستان اسلامی امارت مشران باید د ګران هېواد ستره شتمني یعنې اوبه مهار کړي، د هېواد ځوانان کولای شي په خپل مټو هېواد آباد کړي. دلته خلکو په خپلو نظرونو دې ټکي ته اشاره کړې ده چې که چیرې اوبه مهار شي، نو له شک پرته چې د هېواد شاړې دښتې به سمسورې شي او کرنه به پرمختګ وکړي. د دوی له نظرونو جوتېږي چې افغانستان بشري قوه لري، یوازې چې د کار له پاره زمینه برابره شي. اسلامي امارت د اوبو مهارولو له پاره ګامونه پورته کړي دي چې ښې بېلګې همدا کمال خان او بخش اباد بندونه دي چې پاتې چارې به یې بشپړې شي. دغه راز یې د هېواد په نورو برخو کې د اوبو مهارولو له پاره سترې او متوسطې پروژې پیل کړې دي. موخه یې داده چې افغانستان کې کرنه وده وکړي او د کرنې له ودې سره د هېواد تولیدات زیاتېږي او کولای شي د خلکو د اقتصادي ستونزو د هواري تر څنګ ملي اقتصاد هم پر پښو ودرېږي چې دا بیا د هېواد پرمختګ ته لاره هوارولی شي.

✍ **دویم**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د اسلامي امارت او د کابل تېرې اداري پرتلې ته هم اشاره کړې ده او ویلي یې دي، د کابل تېرې اداري د مېلیاردونو ډالرو بهرنیو مرستو په ترلاسه کولو سره هېڅ ونه کړل، خو اسلامي امارت د اقتصادي بندیزونو سره سره وتوانید چې سترې پروژې عملي کړي. اسلامي امارت پر دې پوره باوري دی، تر څو چې سترې او حیاتي پروژې پلې نه شي او د هېواد زیربناوې ونه رغول شي، هېواد د پرمختګ په لور ګام نه شي پورته کولای. له همدې امله یې خپل ټول تمرکز پر هغو پروژو ور ټول کړی دی چې کولای شي د هېواد پرمختګ او خلکو ته د کار زمینه برابره کړي. د کمال خان بند او د بخش اباد بند د پاتې چارو د بشپړولو تر څنګ یې پر یو شمیر نورو دې ته ورته پروژو هم کارونه پیل کړي دي. د دې پروژو په عملي کېدو سره به له یوه لوري د افغانستان اوبه مهار او له بل لوري به خلکو ته د کار زمینه برابره شي. دغه راز به د کرنې د ودې په برخه کې هم یادې پروژې رغنده رول ولوبوي.

✍ **درېیم**؛ خلکو د خپلو وړاندیزونو په برخه کې یو شمېر هغو پروژو ته اشاره کړې ده چې مهمې دي او په رغېدو به یې د هېواد اوبه تر ډېره بریده مهار او هم به یې د اوبو له زېرمې او برېښنا څخه خلک برخمن شي. دوی وړاندیز کړی چې د وردګو چک بند او د فابریکې پاتې کارونو ته دې هم جدي توجه وشي. د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د سورطاق بند دې جوړ شي چې د ټول هېواد لپاره بسنه کوي. په هېواد کې دې پر نورو هغو پروژو هم کارونه شروع شي چې کارونه یې نیمګړي پاتې دي. د خلکو نظرونو او وړاندیزونو ته اسلامي امارت پاملرنه کړې ده او هڅه یې کړې ټول هغه کارونه چې ګټه یې هېواد او هېوادوالو ته رسېږي او د هېواد د پرمختګ لامل ګرځي، ترسره کړي. خو دا کارونه او پروژې بودیجې ته هم اړتیا لري چې

اسلامي امارت یې د چمتو کولو په لټه کې دی او د هرې پروژې له پاره چې د تمویل سرچینې پیدا کړي، له ځنډه پرته پر هغو پروژو کار پیلوي. موږ او تاسو د دې شاهدان یوو چې د سږ کال یانې ۱۴۰۲ لمریز کال په پراختیایي بودیجه کې د یوولسو هغو پروژو له پاره پیسې ځانګړې شوې چې کارونه یې نیمګړي پاتې دي. د بودیجې په پیدا کولو سره به د هېواد په کچه په متوازن ډول پراختیایي پروژې عملي کېږي.

✍ **ځلورم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د کابل د خیرخانې کوتل سړک د دوهمې برخې پر جوړېدو خوښې ښودلې او ویلي یې دي چې له دې سره به په دې لویه لار ګڼه ګوڼه ختمه او خلکو ته به اسانتیاوې رامنځته شي. دوی وایي، کابل ښار د خیرخانې کوتل چې پخوا د زورواکو له لوري غصب شوی و او چاته یې د دې اجازه نه ورکوله چې غځیدلی سړک پراخ کړي. په دې ساحه کې سختې ستونزې وې او سړک به د ساعتونو ساعتونو له پاره د ګڼې ګوڼې له امله بند و. خو اوس چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی دی، نو د قدرت جزیري ختمې شوې او ښاري پلان مخ په عملي کېدو دی. د خیرخانې د دوهم سړک په جوړېدو سره به د لارې بندښت پای ته ورسېږي. دا یو نیک اقدام دی. اسلامي امارت په کابل ښار کې ښاري پلان ګام په ګام عملي کوي او هڅه کوي چې د دې پلان په بشپړ عملي کېدو سره په ښار کې شته ترانسپورتي ستونزو ته پای ورکړي او په دې برخه کې خلکو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.

د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټینګار کړی چې دوی د افغانستان د ابادۍ او اقتصادي پرمختګ له پاره هلې ځلې کوي. دوی په خپلو خبرو کې ویلي چې باید په خپلو هڅو سره خپل ملت له احتیاجه خلاص کړي او افغانستان په هره برخه کې خودکفا کړي. د اوبو په مهارولو سره به د کرنې برخه وده وکړي او د برېښنا په برخه کې شته ستونزې به تر ډېره بریده له منځه ولاړې شي.

## پایله

د حکومت او ملت ترمنځ دوه اړخیز باور او ملاتړ زیات ارزښت لري. خو دا باور او ملاتړ هغه مهال رامنځته کېدای شي چې حکومتونه خپل مسوولیتونه په بشپړ ډول ترسره کړي. ملت له اقتصادي ستونزو راوباسي، د سوکاله او ارامه ژوند شرایط ورته برابر کړي. دا هغه مهال شوني ده چې حکومتونه تر ټولو لومړی د هېواد ابادی، اقتصادي ودې، امنیت، ټولنیزو خدمتونو او داسې نور خپلو هېوادوالو ته چمتو کړي. په دې ټولو کې تر ټولو زیات ارزښت اقتصادي وده او د هېواد ابادي ده. که چیرې په دغو برخو کې پرمختګ وشي، نو بیا د هېواد پرمختګ تضمینیږي او دا د هېوادوالو یوازینی ارزو او هیله ده. اسلامي امارت د خلکو همدې هیلې ته په پاملرنې سره هڅه کړې ده چې د ملت پر وړاندې خپل شته ټول مسوولیتونه په بشپړ ډول ترسره کړي. د همدې مسوولیتونو له جملې څخه یو مسوولیت د هېواد پرمختګ او په تېره بیا هغه څه دي چې کولای شي هېواد له ستونزو راوباسي او د پرمختګ په لور یې بوځي. هغه څه چې په دې برخه کې تر ټولو مهم او ارزښتناک دي هغه د یوه هېواد اوبه دي چې حکومتونه یې د مهارولو مسوولیت پر غاړه لري. اوبه په هېواد کې هغه هم د افغانستان په څیر یوه هېواد کې چې زیاتره خلک یې په کرکېله بوخت دي او خپل ورځنی ژوند له همدې لارې پرمخ بیایي، د کرنې په وده کې رغنده رول لري. د اوبو په مهارولو سره که له یوه لوري د کرنې پراختیا ته لار هوارېږي له بل لوري د برېښنا ستونزه هم حل کېږي. برېښنا د هېواد د صنعت په وده او تولید کې مهم رول لري. کله چې د برېښنا او انرژۍ ستونزه هواره شي، نو بیا د هېواد د صنعت پرمختګ هم شونی وي او د صنعت په پرمختګ سره د هېواد پرمختګ حتمي وي. اسلامي امارت دې اړتیاوو ته په پاملرنې سره هڅه کړې چې اوبه مهار او په پوره ډول ترې ګټه پورته کړي او د کرنې او برېښنا په برخه کې شته ستونزو ته پای ورکړي.

# په ۱۴۰۲ لمریز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي





**سریزه:**

اسلامي امارت له نړۍ او په ځانګړي ډول د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی. د اسلامي امارت واک ته په رسېدو سره افغانستان کې بې ساری فرصت رامنځته شوی، ترڅو ټول هېوادونه ورسره تعامل وکړي. اوس مهال نړۍ کې نړیوالو اړیکو د دولتي او نادولتي لوبغاړو ترمنځ د رغنده تعامل په پایله کې ښه پرمختګونه کړي دي. پر دوه اړخیز درناوي او مشترکو ګټو ولاړې اړیکې د وخت اړتیا او د ټولو لوریو د ګټو د خوندیتوب معقوله لار ده. د افغانستان اوسنی حکومت پر همدې ذهنیت، د سیمې، ګاونډیو هېوادونو او په ټوله کې له نړۍ سره د مثبت تعامل غوښتونکی دی. د سیاسي تعامل او مشارکت له پاره تر ټولو مهم څه چې دي هغه دیپلوماتیکې ناستې او لیدنې دي. دا چاره کولای شي د هېوادونو ترمنځ اړیکې پراخې او د تعامل له پاره زمینه برابره کړي. خو یو ټکی چې په دې برخه کې مهم دی هغه دادی چې دا اړیکې باید د یو بل په چارو کې د لاس وهنې او مداخلې په مانا نه وي او متقابل درناوی پکې موجود وي. د افغانستان ځینې ګاونډي او د سیمې هېوادونه دي چې له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې پراخې کړي. نو له همدې امله وخت پر وخت د یادو هېوادونو پلاوي افغانستان ته سفرونه کوي او دلته له مسوولینو سره پر دوه اړخیزو اړیکو سربېره د اقتصادي، سوداګریزو اړیکو او ځینو بنسټیزو پروژو چې د دواړو هېوادونو ګټې پکې خوندي وي، د پیل په اړه خبرې اترې کوي او هڅه یې داده چې په دې برخه کې پرمختګ وشي. په همدې موخه د افغانستان اسلامی امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي دولتي پلاوي د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال محترم سریک ژومانګارین په مشرۍ له

راغلي پلاوي سره په څلور چنار ماڼۍ کې وکتل. په ليدنه کې دواړو لورو پر سياسي، اقتصادي، سوداګريزو، ترانزيټي، اوسپنې پټلۍ او بنسټيزو پروژو هراړخيزې خبرې وکړې. په دې ليدنه کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې لا پراخې شي، له دوست هېواد قزاقستان څخه غواړو چې په خپل هېواد کې د افغانستان نوي ډيپلوماتان ومني.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ثبات لپاره کوټلي ګامونه اخيستي او د زيربنايي پروژو پر پلانونو په چټکۍ سره کار کوي. محترم ملا صاحب له قزاقستان سره د سوداګريزو اړيکو پر پراخولو ټينګار وکړ او ويې ويل چې په افغانستان کې د دايمي امنيت او مرکزي حکومت په رامنځته کېدو سره د اوسپنې پټلۍ شبکو په څېر پروژو کې د پانګونې له پاره ښه زمينه برابره شوې ده. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پرمهال وويل، افغانستان ته به هغه هېوادونه لومړيتوب ولري چې د دې پروژو په ترسره کولو کې له افغانستان سره حسن نيت او په دغو برخو کې ښه تجربه ولري. د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال وويل، قزاقستان د تاريخ په اوږدو کې له افغانستان سره ښې اړيکې درلودلې چې د دغو اړيکو د لا پياوړتيا په موخه به په نږدې راتلونکي کې په قزاقستان کې نوي افغان ډيپلوماتان ومنل شي.


ښاغلي ژورنالګارين زياته کړه، افغانستان ته د دوی د سفر اصلي موخه د سوداګريزو اړيکو پراختيا، د سوداګريزو ستونزو د ژر حل په موخه د ګډې ډلې رامنځته کول، افغان سوداګرو ته د ويزو اسانتياوو برابرول، په دواړو هېوادونو کې بانکي څانګې پرانيستل او د افغان ټرانس په څېر بنسټيزو پروژو کې له افغانستان سره ګډ کار او په دغه پروژه کې ونډه اخيستل په ګوته کړه. ژورنالګارين د خپلو خبرو پر مهال وويل، تېر کال قزاقستان او افغانستان د شاوخوا يو مېليارد ډالرو په ارزښت سوداګري درلوده چې د پخوا په پرتله دوه برابره زياتوالی ښيي او د دواړو هېوادونو د اقتصادي همکاريو په زياتيدو سره به سږ کال دغه اندازه تر درېيو مېلياردو ډالرو ورسوي.

## په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د افغانستان او قزاقستان ترمينځ سوداګري درې ميليارد ډالرو ته د رسېدو موخه:


موخه يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو پراختيا ده. د سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره د سوداګرۍ په زياتوالي سره به د عوايدو کچه لوړه او ورسره به اقتصادي پرمختګ رامنځته شي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «۱۴۰۲لمریز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې مېلیارد ډالرو ته د رسېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**




**د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:**





یادونه: دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې ۱۴۰۲ کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې مېلیارد ډالرو ته د رسېدو راپور یې په ویډیويي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ١- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه




### تویټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې





### تلویزیونونه




### ویب پاڼې



## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ویبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصـوصي رسـنيو کـې د خلکـو نظرونـو ارزونــې ټولګـه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې مېليارد ډالرو ته د رسېدو خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

پـه رسـنيو او ټولنيـزو شـبکو کـې د خلکـو مثبتـو، منفـي نظرونـو او وړانديزونـو څېړنـه او ارزونـه د خلکـو نظرونـو روښـانتيا او هغـو تـه د پاملرنـې پـه مانـا ده. د دې مسـلې ارزونـه او خپـرول خلکـو او ټولنـې تـه دا فرصـت پـه لاس ورکـوي چـې د حکومـت د پرېکـړو، کړنـو او پـروژو پـه اړه خپـل نظرونـه، غوښـتنې، نيوکـې او وړانديزونـه شريـک کـړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱- ۱۴۰۲لمریز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې مېلیاردو ډالرو ته د رسېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ویبپاڼو، خبري اژانسونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۸۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۶۰ مثبت دي. ۱۰۰منفي نظرونه او ۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۷ ٪، منفي ۱۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲- ۱۴۰۲لمریز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې مېلیاردو ډالرو ته د رسېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۷۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۵۵ مثبت، ۱۵۷ منفي او ٦۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۲ ٪، منفي نظرونه ۲۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۱ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۷ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ٦۲ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۱ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۲۱۵ مثبت نظرونه، ۲۵۷ منفي نظرونه او ۹۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۸ ٪ مثبت نظرونه، ۱٦ ٪ منفي نظرونه او ٦ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنيو په پرتله په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل يې څه دی؟

يو لامل يې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بريده د دولتي رسنيو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. ۱۴۰۲لمريز کال کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري درې مېلیارډ ډالرو ته د رسېدو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله يې خبرونه په دولتي رسنيو کې په زياته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنيو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زيات خپور شي، نو په اړه يې نظرونه زيات او سلنه يې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بيارغونې په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه يې خپل نظرونه څرګندوي.

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- دا ډول ليدنې به د افغانستان اسلامي امارت په رسمېت پېژندلو کې ډېر مثبت رول ولري.
- موږ د نړۍ په تېره بيا د ګاونډيو هېوادونو څخه احترامانه خواهش کوو چې زموږ ملي حاکميت ته د درناوي په پار دې خپل نيک نيت په ډاګه کړي او د رسميت پېژندلو لړۍ دې شروع کړي، زموږ له هېواد سره دو مخی سياست د هېڅ‌ا په ګټه نه دی.
- د اړيکو پراخول او ډيپلوماتانو منل د دواړو هېوادونو په ګټه دي. د قزاقستان له پاره افغانستان يو ښه سوداګريز مارکېټ دی، ځکه د قزاقستان سوداګريز توکي په افغانستان کې ښه مارکېټ لري.
- پر افغانستان د فشار پر ځای بايد د تعامل لار خپله شي. له دې سره به د دوه اړخيزو اړيکو په څنګ کې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې هم پراخې شي چې دا د ټولو په ګټه ده.
- د افغانستان او قزاقستان ترمنځ ډيپلوماټيکې ناستې او د پلاويو تګ راتګ ښه خبره ده. په دې سره د دواړو هېوادونو ډېرې ستونزې حل کېدای شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهم موضوعات د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ خلکو د یاد خبر په اړه په خپلو نظرونو کې ویلي دي دا ډول لیدنې به د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پیژندلو کې ډېر مثبت رول ولري. دوی وایي، د ګاونډیو په تېره بیا د نړۍ له هېوادونو څخه احترامانه خواهش کوو چې زموږ ملي حاکمیت ته د درناوي په پار دې خپل نیک نیت په ډاګه کړي او د رسمیت پېژندلو لړۍ دې شروع کړي، زموږ له هېواد سره دوه مخی سیاست د هېچا په ګټه نه دی. په نړۍ کې هر هېواد د نورو له لوري په رسمیت پېژندلو ته اړتیا لري، ځکه له ډیپلوماتیکو اړیکو پرته سیاسي، اقتصادي په تیره بیا سوداګریزې اړیکې پراختیا نه شي موندلی. دا ټول هغه مسایل دي چې هر هېواد ورته اړتیا لري او له دې لارې کولای شي په هېوادونو کې شته ستونزې د یو او بل په مرسته او همکارۍ حل شي. خو خبره داده چې رسمیت پېژندلو کې یو هېواد باید د بل هغه ملي واکمنې او ځمکنۍ بشپړتیا ته په پاملرنې سره د یو بل په کورنیو چارو کې له لاسوهنې هم ډډه وکړي. له یو بل او سره د همکارۍ او اړیکو په پراختیا کې د ښه نیت له مخې ګامونه پورته کړي. اسلامي امارت بیا بیا ویلي دي چې دوی د متقابل درناوي له مخې له نړۍ سره د تعامل غوښتونکی دی، خو د تعامل په صورت کې په کورنیو چارو کې لاسوهنې ته اجازه نه ورکوي. که دې اصل ته پاملرنه وشي، نو د نړۍ په هغو هېوادونو کې چې سیاسي، اقتصادي او یا هم ټولنیز کړکیچونه روان دي، ډېر ژر به پای ومومي او موږ به د یوې سوله‌ییزې نړۍ شاهدان واوسو.

✍ **دویم**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د اړیکو پراخول او ډیپلوماتانو منل د دواړو هېوادونو په ګټه بللي دي. دغه راز یې ویلي چې د قزاقستان له پاره افغانستان یو ښه سوداګریز مارکیټ دی، ځکه د قزاقستان سوداګریز توکي د افغانستان مارکیټونو ته راځي. پر افغانستان د فشار پر ځای باید د تعامل لار خپله شي. له دې سره به د دوه اړخیزو اړیکو په څنګ کې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې هم پراخې شي چې دا د ټولو په ګټه ده. په رښتیا هم چې اوسمهال نړۍ له اسلامي امارت سره یو اړخیز چلند کوي. هغه هېوادونه چې دا مهال په نړۍ کې ځان ته زبرځواکونه وایي، هغوی نه خپله له اسلامي امارت سره تعامل کوي او نه هم نور هېوادونه دې ته پرېږدي چې له افغانستان سره تعامل وکړي. دا د افغانستان پر وړاندې د نړیوالو جفا ده. په افغانستان کې اوسمهال یو خپلواک حکومت رامنځته شوی، ځمکنۍ بشپړتیا خوندي او ټولیز امنیت ټینګ شوی دی. د لومړنیو، منځنیو او ثانوي او لوړو زده کړو بهیر روان دی او د لا پرمختګ له پاره یې یو په بل پسې ګامونه پورته کېږي. د وګړو حقونه د اسلامي شریعت په رڼا کې تأمین، د اقتصادي ودې له پاره کوټلي ګامونه پورته شوي او سوداګریزې اړیکې ورځ تر بلې مخ په پراختیا دي. د ډیپلوماتیکو اړیکو د ټینګښت له پاره هم هلې ځلې کېږي. دا ټول هغه څه دي چې د یوه حکومت د رسمیت پیژندلو له پاره اړین دي او اسلامي امارت دا اصول پوره کړي دي. همدې اصولو ته په کتو یو شمېر هېوادونو دې ته زړه ښه کړی دی چې د اسلامي امارت ډیپلوماتان ومنې او په یادو هېوادونو کې سیاسي نمایندګۍ اسلامي امارت ته وسپاري چې دا مهال یې شمیر څوارلس هېوادونو ته رسېږي. په دې وروستیو کې

د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان له پلاوي سره په لیدنه کې د یاد پلاوي له مشر څخه وغوښتل چې په خپل هېواد کې دې افغان ډیپلوماتان ومني. د قزاقستان د پلاوي له لوري دا غوښتنه ومنل شوه او د پلاوي مشر وویل چې په خپل هېواد کې به افغان ډیپلوماتان مني. دا چاره نه یوازې د افغانستان بلکې د قزاقستان په ګټه هم ده. افغانستان د خپل جیوپولټیک موقعیت له مخې د منځنۍ اسیا هېوادونو له پاره یوه غوره ترانزیټي او سوداګریزه لار ده. دا چې په افغانستان کې د پانګونې له پاره ښه فرصتونه شته او د قزاقستان هېواد ترځنګ د نړۍ نور هېوادونه هم کولای شي له دې فرصتونو ګټه پورته کړي. خو دا هله شونې ده چې نړۍ اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او د ښه نیت له مخې ورسره تعامل وکړي.

## پایله

اسلامي امارت له نړۍ او په ځانګړي ډول له سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره افغانستان کې بې ساری فرصت رامنځته شوی، تر څو ټول هېوادونه ورسره تعامل وکړي. پر دوه اړخیز درناوي او مشترکو ګټو ولاړې اړیکې د وخت اړتیا او د ټولو لوریو د ګټو د خوندیتوب معقوله لار ده. د افغانستان اوسنی حکومت پر همدې ذهنیت، د سیمې، ګاونډیو هېوادونو او په ټوله کې له نړۍ سره د مثبت تعامل غوښتونکی دی. اسلامي امارت له نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره په سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې اړیکو ټینګولو او مثبت تعامل ته مخه کړې. هڅه یې داده چې د اړیکو له لارې سیاسي، اقتصادي، سوداګریزې او نورې برخې پیاوړې کړي. په دې برخه کې له هر څه وړاندې له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو ټینګولو لړۍ پیل شوې ده. په دې هېوادونو کې د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او یو شمېر نور هېوادونه شامل دي. د سیمې او ګاونډي هېوادونه هم له افغانستان سره د خپلو اړیکو پراختیا غواړي او په دې لړ کې د دې هېوادونو یو شمېر لوړپوړیو پلاویو افغانستان ته سفرونه کړي دي. په همدې موخه د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي دولتي پلاوي د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال محترم سریک ژومانګارین په مشرۍ له راغلي پلاوي سره په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په لیدنه کې دواړو لورو پر سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیټي، اوسپنې پټلۍ او بنسټیزو پروژو هراړخیزې خبرې وکړې. په دې لیدنه کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا پراخې شي، له دوست هېواد قزاقستان څخه غواړو چې په خپل هېواد کې د افغانستان نوي ډیپلوماتان ومني. له دې نه معلومه شوه چې اسلامي امارت له نورو هېوادونو سره تعامل ته چمتو دی. دغه راز له نورو هېوادونو هم غواړي چې په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي. دوه اړخیزې اړیکې یوازې د افغانستان نه، بلکې د نړۍ د نورو هېوادونو په ګټه هم دي. د اړیکو له ټینګولو سره به له یوه لوري سیاسي او له بل لوري به اقتصادي او سوداګریزې اړیکې پراخې شي چې دا بیا خپله په هېوادونو کې د شته ستونزو په راکمولو کې رغنده رول لوبولی شي.

# اسلامي امارت د بنسټیزو پروژو پلي کېدو او پر هغو پانګونې ته ژمن دی



## سریزه:

په هېواد کې د افغانستان اسلامي امارت په واکمنېدو سره، امنیت ټینګ شوی، د دې ترڅنګ بنسټیزې پروژې پیل او بیارغونې ته پوره پاملرنه شوې ده چې ښه بېلګه یې د هېواد په شمال کې د قوش تېپې کانال، په هلمند کې د کجکي بند د دوهم فاز ګټې اخیستنې ته سپارل، د کابل- قندهار لویې لارې بیارغونه او داسې نورې سترې او متوسطې پروژې دي چې چارې یې په چټکۍ سره روانې دي. د هېواد په بېلابېلو برخو کې د بېلا بېلو پروژو د پلي کېدو ترڅنګ د برېښنا بندونو جوړولو، رغولو او هم په بندونو کې د اوبو ذخیره کولو ته تر ډېره بریده پام شوی دی چې دا اقدام واقعاً ورځ تر بلې هېواد د اقتصادي ځان بسیاینې پر لور بیایي. په بنسټیزو پروژو پانګونه کولی شي د هېواد اقتصادي بنسټونو ته په لنډمهال، منځمهال او اوږدمهال کې وده ورکړي او افغان ولس له ګڼو ستونزو راوباسي. په همدې لړ کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ګلبهار پلازا پروژې پرانیسته وکړه. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره بشپړ امنیت تأمین شوی او په هېواد کې تر بل هر وخت د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې چې د دغه زېربنا پرانیسته یې یوه ښه نمونه ده. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد ابادول، خلکو ته اسانتیاوې رامنځته کول او هغوی ته د کاري فرصتونو برابرول خپل مسوولیت بولي او د دغه


موخـې لپـاره نـه سـترې كېدونكـې هلـې ځلـې كـوي. اسـلامي امـارت بـه د هېـواد د اقتصادي ثبـات پـه موخه د لويـو لارو رغـول، د اوسـپنې پټلـۍ شـبكو غځـول او دې تـه ورتـه نـورې لويـې زېربنايـي پـروژې په نـږدې راتلونكـې كې پيـل كړي. د اوسـپنې پټلـۍ پـه غځېدو سره به افغانسـتان د سـويلي او مركزي اسـيا ترمنځ د وصـل نقطه وګرځي. محـترم ملا عبدالغني بـرادر اخونـد لـه هېـواده بهـر ملي سـوداګرو او پانګوالو ته بلنه وركړه چې افغانسـتان ته راسـتانه شي او په خپـل هېواد كې پانګونـه وكـړي. محـترم مـلا صاحـب زياته كړه، اسـلامي امارت په ټول تـوان سره د دوی د سر او مال امنيـت خوندي كوي، دوی تـه يـې د پانګونـې اسـانتياوې برابـرې كـړې او د هـر ډول همـكارۍ ډاډ وركوي. ګلبهار پلازا هسـتوګنيز او سـوداګريز مركـز د كابـل ښـار پـه نهمـه ناحيـه كـې د خصـوصي سـكټور لـه خـوا جوړېږي چـې سـلګونه هټـۍ او د هسـتوګنې كورونه پكـې شـامل دي. پـه يـاده پـروژه ۷۰ مېليونـه ډالـره پانګونـه كېـږي چې پـه درېيو كلونـو كې به يـې چارې بشـپړې او ګټې اخيسـتنې ته وسـپارل شي.

### اسلامي امارت د بنسټيزو پروژو پلي كېدو او پر هغو پانګونې ته د ژمنتيا موخه:


موخـه يـې د هېـواد پرمختـګ، سـوكالي او ابـادي ده. د بنسـټيزو پـروژو پـه پـلي كېـدو سره د هېـواد د پرمختـګ ترڅنـګ، اقتصـادي وده رامنځتـه كېـږي، د بـې‌كارۍ كچـه راټيټېـږي او د خلكـو اقتصـادي سـتونزې ورسره هوارېږي.

**په هغو رسنيو كې د خلكو نظرونو ارزونه چې «اسلامي امارت د بنسټيزو پروژو پلي كېدو او پر هغو پانګونې ته د ژمنتيا» خبر يې خپور كړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې اسلامي امارت د بنسټیزو پروژو پلي کېدو او پر هغو پانګونې ته د ژمنتیا راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### تویټر پاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




### ویب پاڼې




### راډیوګانې




### په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه





### راډیوګانې




## ویبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## اسلامي امارت د بنسټیزو پروژو پلي کېدو او پر هغو پانګونې ته د ژمنتیا خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. اسلامي امارت د بنسټیزو پروژو پلي کېدو او پر هغو پانګونې ته د ژمنتیا خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، وېبپاڼو، خبري اژانسونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۳۸۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۴۹ مثبت دي، ۱۱۰ منفي نظرونه او ۲۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۰ ٪، منفي ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. اسلامي امارت د بنسټیزو پروژو پلي کېدو او پر هغو پانګونې ته د ژمنتیا خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۳۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۶۵۸ مثبت، ۱۹۶ منفي او ۷۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۱

٪، منفـي نظرونه ۲۱ ٪ او سـالم وړاندیزونـه ۸ ٪ دي. پورتنیـو شـمېرو تـه پـه پاملرنـې پـه دولتـي رسـنیو کـې د خصوصي رسـنیو پـه پرتلـه د خلکـو مثبتـو نظرونـو سـلنه زیاتـه ده. پـه دولتـي رسـنیو کـې د مثبتـو نظرونـو سـلنه ۹۰ او پـه خصوصي رسـنیو کـې بیـا دا سـلنه ۷۱ ده. خـو پـه خصـوصي رسـنیو کـې بیـا د سـالمو وړاندیزونـو سـلنه لـوړه ده. پـه خصـوصي رسـنیو کـې د سـالمو وړاندیزونـو سـلنه ۸ او پـه دولتـي رسـنیو کـې دا سـلنه ۲ده. کـه پـه دولتـي او خصـوصي رسـنیو کـې مثبـت، منفي نظرونـه او سـالم وړاندیزونـه جمـع کـړو، پـه ټولـه کـې ۱۹۰۷ مثبـت نظرونـه، ۳۰۶ منفـي نظرونـه او ۱۰۸ سـالم وړاندیزونـه دي چې لـه مخې یـې ۸۲ ٪ مثبـت نظرونـه، ۱۳ ٪ منفـي نظرونـه او ۵ ٪ سـالم وړاندیزونـه دي.

## دا چې د خصوصي رسـنیو په پرتله په دولتي رسـنیو کې د مثبتو نظرونو سـلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یـو لامـل یـې دادی چې پـه حکومتـي کچـه تـرسره شـوې کړنـې تـر ډېـره بریـده د دولتـي رسـنیو لـه لـوري تـر پوښـښ لانـدې راځـي، نـو لـه همـدې املـه یـې خبرونـه پـه دولتـي رسـنیو کـې پـه زیاتـه کچـه خپرېـږي. د دې خبر پـه اړه کـه څـه هـم پـه دولتـي رسـنیو کـې د مثبتـو نظرونـو سـلنه لـوړه ده، خـو پـه خصـوصي رسـنیو کـې هـم د مثبتـو نظرونـو سـلنه د پـام وړ ده. هـر خـبر او راپـور چې زیـات خپـور شي، نـو پـه اړه یـې نظرونـه زیـات او سـلنه یـې لـوړه وي. لـه دې څخـه جوتېږي چې د هېـواد د بیارغونـې پـه برخـه کـې چـې هـر ګام پورتـه کېـږي د خلکـو لـه هـرکلي سره مـخ او پـه اړه یـې خپـل نظرونـه څرګنـدوي.

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

د یادونـې وړ ده، دلتـه مـوږ یـوازې د ګوتـو پـه شـمېر نظرونـه چې پـه هغـو کـې مثبـت، منفـي نظرونـه او وړاندیزونه شـامل دي، راوړو، څکـه د ټولـو نظرونـو یادونـه د لیکنـې لـه حوصلې وتلې ده، د نظرونو شـمېر لسـګونو بلکې سـلګونو ته رسـېږي.

- د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم ملا عبدالغنـي برادر اخوند پـه واقعیت سره خدمت ته ملا تړلې ده، هـر چـا چـې د دې مظلـوم ملـت لپـاره پـه صداقت خدمت وکـړ، نو پوه شـه چې اللـه تعالی به تـرې راضي شي.
- سـوداګري خـو لـه نـړۍ سره پـه بانکـي سیسـتم کېږي، د افغانسـتان لـه بانکونو څخـه د نړۍ نـورو هېوادونـو ته د پیسـو پـه لېږلـو کـې ډېـرې سـتونزې دي اول بایـد لـه نـړۍ سره دا سـتونزې حل شي، لـه هغې وروسـته دې هېـواد ته د سـوداګرو د بېرته سـتنېدو غوښـتنه وشي.
- د اسلامي امـارت یـو ښـه کار دا دی چې افغانسـتان یـې لـه کورنـۍ جګـړې ژغورلی، عـام المنفعه تاسیسـات یې سـاتلي، لـه کابـل څخـه مـوږ تـه احـوال راځي چې د ظاهر شـاه د وخـت ارامي افغانسـتان تـه راغلې، څوک پـه چا کار نـه لـري، یـوازې د ښـځو د حقونـو مسـله ده، هیله ده دا سـتونزه هـم حل شي.
- د هېواد په دننه کې پانګونه د هېواد په ابادۍ کې مهم رول لري.

- که د اویا میلیونو ډالرو په ارزښت په روغتیایي برخه کې پانگونه شوې وای؛ نو ډېره به ښه وای. افغانستان ته هره ورځ له گاونډیو هېوادونو څخه بې کیفیته دواگانې راوړل کېږي.

- که د هېواد په دننه کې یو ښه معیاري روغتون جوړ شي، دا به ښه وي، ځکه هغه خلک چې پیسې لري، هغوی خپل مریضان بهرنیو هېوادونو ته بیایي او هغه خلک چې اقتصادي وضعیت یې خراب دی او پیسې نه لري، دوی خپل مریض همدلته له لاسه ورکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهم موضوعات د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند فعالیتونه او کړنې ستایلې دي. دوی وایي، د ریاست الوزراء اقتصادي معاون صاحب په واقعیت سره خدمت ته ملا تړلې ده، هر چا چې د دې مظلوم ملت لپاره په صداقت خدمت وکړ، نو پوه شه چې الله تعالی به ترې راضي شي. دا یو واقعیت دی چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپل ورسپارل شوي مسوولیت له مخې خپلې ټولې هلې ځلې پر دې ور ټولې کړې دي چې څنگه وکولای شي د هېواد اقتصاد په پښو ودروي، د بې کارۍ کچه راټیټه او د خلکو اقتصادي ستونزې حل کړي. نوموړي تل په خپلو خبرو کې ویلي چې موږ باید نور پر ځان بسیا شو او د نړۍ له احتیاجه ځان خلاص کړو. د دې چارې له پاره اړینه ده چې په هېواد کې دننه هغه سرچینې ولټوو چې کولای شي اقتصاد مو پیاوړی کړي. په دې برخه کې د اقتصادي معاونیت په هلو ځلو ډېری هغه پروژې د پلي کېدو په حال کې دي چې کولای شي هېواد د پرمختگ په لور بوځي او ورسره اقتصادي ټیکاو رامنځته شي. له کانونو نیولې بیا د اوبو تر مدیریت او د یو شمېر بنسټیزو پروژو پیل د دې خبرې ښه ثبوت دی.

- **دویم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې بانکي سیستم ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي چې تجارت خو له نړۍ سره د بانکونو له لارې کېږي، د افغانستان له بانکونو څخه د نړۍ نورو هېوادونو ته د پیسو په لېږلو کې ډېر مشکلات دي اول باید له نړۍ سره دا مشکل حل شي، له هغې وروسته دې هېواد ته د سوداگرو د بېرته ستنېدو غوښتنه وشي. دا پر ځای نظر دی بانکي سیستم په نننۍ نړۍ کې د هر هېواد له پاره د ملاتیر بلل کېږي. ځکه که بانکي سیستم نیمگړی او ستونزې ولري؛ نو نه یوازې دا چې پانگوال پانگونې ته زړه نه ښه کوي، بلکې سوداگري چې د اقتصادي ودې له پاره اړینه ده، هم ټکنۍ کېږي. خو اسلامي امارت په دې برخه کې کوټلې گامونه پورته کړي دي. لومړی دا چې له یو ستر تحول وروسته د افغانستان بانکي سیستم یې له پاشلو ژغورلی دی. دوهمه خبره داده چې په بانکي سیستم کې دا مهال ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي، په بشپړ ډول د سیستم بېرته عادي کول وخت ته اړتیا لري. د بانکي سیستم د ستونزو اصلي لامل په داخل کې نه، بلکې له هېواده بهر دی او هغه دا چې پر افغانستان د امریکا او نړیوالې ټولنې له لوري لگول شویو بندیزونو دا سیستم تر

ډېره بریده اغیزمن کړی دی. په دې برخه کې هم اسلامي امارت تر خپله وسه هلې ځلې کوي او هیله داده چې کېدای شي دا ستونزې هم په راتلونکي کې حل شي.

✍ **دریېیم؛** زموږ یو شمېر بهر میشتو هېوادوالو په افغانستان د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د ټینګ شوي امنیت په اړه خوښي ښودلې ده او ویلي یې دي چې په افغانستان کې بشپړ امنیت دی. دوی په خپلو نظرونو کې ځینو ستونزو ته اشاره کړې ده او هیله یې ښودلې ده چې دا ډول ستونزې به هم په لنډمهال کې پای ومومي. دوی وایي، د اسلامي امارت یو ښه کار دادی چې افغانستان یې له کورنۍ جګړې ژغورلی، عام المنفعه تاسیسات یې ساتلي، له کابل څخه موږ ته احوال راځي چې د ظاهر شاه د وخت ارامي افغانستان ته راغلې، څوک په چا کار نه لري، یوازې د ښځو د حقونو مسله ده، هیله ده دا ستونزه هم حل شي. دا تر لمر روښانه حقیقت دی چې د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې ځلوېښت کلنو ناخوالو او جګړو ته د پای ټکی ایښودل شوی دی. بشپړ امنیت خوندی دی. نه غل شته، نه غاصب، نه خپلسري شته او نه ویجاړي، نه اداري فساد او نه رشوت اخستل، هر څه له منځه تللي او هېوادوال ډاډمنه فضا کې ژوند کوي. دا چې دوی وایي، د ښځو د حقونو مسله به هم حل شي، اسلامي امارت د ښځو په ګډون د افغانستان ټولو خلکو ته د شریعت په چوکاټ کې حقونه ورکړي دي او د چا حق نه دی تلف شوی.

✍ **څلورم؛** یو شمېر هېوادوالو بیا وړاندیز کړی دی چې که دا پانګونه د روغتیا په برخه کې شوې وای؛ نو خلک به له زیاتو ستونزو څخه خلاص وو او له بل لوري به هېواد ته بې کیفیته درمل هم نه راوړل کېدل. دوی وایي، که د اویا میلیونو ډالرو په ارزښت په روغتیایي برخه کې پانګونه شوې وای؛ نو ډېره به ښه وای. افغانستان ته هره ورځ له ګاونډیو هېوادونو څخه بې کیفیته دواګانې راوړل کېږي. دغه راز دوی وړاندیز کړی چې که په همدې پیسو یو معیاري روغتون جوړ شوی وای، نو خلک به نور دې ته اړ نه و چې خپل ناروغان د درملنې له پاره ګاونډیو او یا هم نورو هېوادونو ته بوځي. دوی وړاندیز کړی چې که د هېواد په داخل کې یو ښه معیاري روغتون جوړ شي، دا به ښه وي، ځکه هغه خلک چې پیسې لري، هغوی خپل ناروغان بهرنیو هېوادونو ته بیایي او هغه خلک چې اقتصادي وضعیت یې خراب دی او پیسې نه لري، دوی خپل ناروغان همدلته له لاسه ورکوي. د خلکو وړاندیز پر ځای دی، د اسلامي امارت هڅه هم داده چې روغتیایي سکټور پیاوړی کړي او بله دا چې د بې کیفیته درملو د راوړلو له پاره د حکومت په چوکاټ کې د خوراکي توکو او درملو ملي اداره فعالیت کوي. دغه اداره په سرحدونو کې د خوراکي توکو ترڅنګ د درملو کیفیت کنټرولوي او چاته د دې اجازه نه ورکوي چې بې کیفیته درمل وارد کړي. دغه راز یاده اداره په هېواد کې دننه ټول درملتونونه او روغتیایي مرکزونه او درمل واردونکي شرکتونه څاري او ټول بې کیفیته او تاریخ تېر درمل او خوراکي توکي وخت پر وخت راټولوي او له منځه یې وړي او له پلورونکو سره یې قانوني چلند کوي. دا چې په دې پیسو باید یو روغتون جوړ شوی وای، دا خو ښه خبره ده، خو د هېواد د ابادۍ له پاره اړینه ده چې په هر سکټور کې پانګونه وشي، هغه که روغتیا وي، کرنه، صنعت، بیارغونه او داسې نور. ځکه زموږ هېواد په دې ټولو برخو کې کار او پرمختګ ته اړتیا لري. دا برخې کولای شي اقتصاد غښتلی او د خلکو اقتصادي ستونزې هوارې کړي.

## پایله

واک تـه د اسـلامي امـارت لـه رسـېدو سره پـه ټـول هېـواد کـې، امنیت ټینـګ شـوی، د دې ترڅنګ بنسـټیزې پـروژې پیل او بیارغونـې تـه پـوره پاملرنـه شـوې ده. پـه بنسـټیزو پـروژو پانګونـه کولـی شي د هېـواد اقتصـادي بنسـټونو تـه وده ورکړي او افغـان ولـس لـه ګڼـو سـتونزو راوبـاسي. پـه همـدې لـړ کـې د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغني بـرادر اخونـد د ګلبهـار پـلازا پـروژې پرانیسـته وکـړه. پـه همـدې موخه جوړه شـوې غونـډه کې د ریاسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد وویل، د افغانسـتان اسـلامي امـارت په راتګ سره بشـپړ امنیت تأمین شـوی او پـه هېـواد کـې تـر بـل هـر وخـت د پانګونـې لپـاره ښـه زمینـه برابره شـوې چې د دغـه زېربنـا پرانیسـته یې یوه ښـه نمونه ده. محـترم مـلا صاحـب زیاتـه کـړه، اسـلامي امـارت د هېـواد ابـادول، خلکـو تـه اسـانتیاوې رامنځتـه کـول او هغـوی تـه د کاري فرصتونـو برابـرول خپـل مسـوولیت بـولي او د دغـه موخې لپـاره نه سـترې کېدونکې هلې ځلې کوي. اسـلامي امارت بـه د هېـواد د اقتصـادي ثبـات پـه موخـه د لویـو لارو رغـول، د اوسـپنې پټلـۍ شـبکو غځـول او دې تـه ورتـه نـورې لویـې زېربنایـي پـروژې پـه نـږدې راتلونکـې کـې پیـل کـړي. د اوسـپنې پټلۍ په غځېـدو سره بـه افغانسـتان د سـویلي او مرکزي اسـیا ترمنـځ د وصـل نقطـه وګرځـي. اسـلامي امارت د هېـواد د ابادۍ ترڅنـګ هڅه کوي هغه پـروژې او زیربنـاوې ورغوي چـې کـولای شي د خلکـو پـر ژونـد مثبـت اغیـز وکـړي. د داسـې پـروژو په پـلي کېدو سره بـه له یو لـوري اقتصـاد وده وکړي او لـه بـل لـوري بـه خلکـو تـه د کار زمینـه برابـره کـړي. د کاري زمینـې پـه برابرېـدو سره به په هېـواد کې د بـې کارۍ کچه راټیټـه او د خلکـو اقتصـادي سـتونزې به پـای ومومي

# د مزار شریف- هرات- کندهار ترمنځ به د اوسپنې پټلۍ پروژې لومړني کارونه پیل شي



**سریزه:**

پیاوړی اقتصاد، په خپلو پښو ولاړه ټولنه، ټولنیز ټیکاو او ثبات، ملي پیاوړی حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او داسې نور هغه پیاوړي دریځونه دي چې ویښ ملتونه یې د بنسټیزو موخو په توګه د ځان له پاره ټاکي. نن ورځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ددې له پاره نه ټینګېږي چې اړتیاوې پوره کړي، بلکې تر دې لوړې موخې او اهداف یانې هوساینه هم له ځان سره لري. همدې ټکو ته په کتو د یوه هېواد د پرمختګ له پاره د ترانزیټ په برخه کې پانګونې ته اړتیا ده. د ترانزیټ له پاره د لویو لارو، سړکونو، د ریل پټلیو غځولو، هوایي کرښو او معیاري هوایي ډګرونو جوړول اړین دي، ځکه ددې ترانزیټي او مواصلاتي زیربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښېرازي او پرمختیا امکان نه لري. اسلامي امارت پورتنیو ټکو ته په پاملرنې سره غواړي د نورو زیربناوو ترڅنګ د ریل پټلۍ غځولو یوه بنسټیزه پروژه پیل کړي. دوی پر دې باور دي چې افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی او له ځمکنیو لارو او ریل پټلۍ پرته نه شي کولای له ګاونډیو او په ټوله کې له نړۍ سره خپلې سوداګریزې اړیکې ټینګې او راکړه ورکړه ترسره کړي. د ریل پټلۍ له لارې به لومړی له ګاونډیو او بیا د نړۍ له نورو هېوادونو سره ونښلول شي. په دې وروستیو کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون د ۱۴۰۱ لمریز کال د سلواغې د ۲۹مې نېټې په غونډه کې د اوسپنې پټلۍ اداري په مشرۍ مؤظفې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د اوسپنې پټلۍ اداره د ریل پټلۍ داسې ستره او ملي پروژه په ګوته کړي چې ودانیزې چارې یې د کورنیو عوایدو پر مټ بشپړېدای شي. د اقتصادي کمېسیون له پریکړې سره سم، د اوسپنې پټلۍ اداري او مؤظفې کمېټې په ګډه د پروژې مسیر، اقتصادي، جغرافیایي ارزښت او د عملي کېدو لارو چارو ته په کتو د مزارشریف – هرات - کندهار ترمنځ اوسپنې پټلۍ پروژه مشخصه کړه. یاده پروژه


چې ۱۴۶۸ کیلومتره اوږدوالی لري، له ۹ ولایتونو، ۳۷ولسوالیو او ۸۰۰ کلیو څخه تیرېږي. ددې پروژې پر مټ به د افغانستان له لاري شرقي اسیا له ایران، ترکیې او اروپایي هېوادونو، همداراز منځنۍ اسیا او روسیه به له سویلي اسیا او بحري بندرونو، افغانستان به د ایران له چابهار، بندر عباس او د پاکستان له کراچۍ او ګوادر بندرونو سره ونښلوي. په همدې ډول ددې پروژې په بشپړېدو سره به سیمه ییز اتصال رامنځته او د افغانستان له لارې به د سیمې ترانزیټ او انتقالات زیات شي. کله چې دا پروژه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي؛ نو دا د مسکو او ډیلي ترمنځ تر ټولو لنډه او اقتصادي لاره ده. د ریل پټلۍ دا پروژه په دوو فازونو کې بشپړېږي لومړی فاز یې له مزارشریف نه تر هرات پورې دی چې اوږدوالی یې ۶۵۷کیلومترو ته رسیږي. دویم فاز یې بیا له هرات څخه پیل تر فراه، نیمروز، هلمند او د کندهار تر سپین بولدک پورې دی چې اوږدوالی یې ۸۱۱کیلومتره دی. د دغې پروژې د لومړي فاز په اړه د ترسره شویو تخنیکي-اقتصادي مطالعاتو، ترانزیټي ارزښت، د اټکل شوو انتقالاتو حجم او عوایدو ته په کتو به د لومړي فاز عملي چارې د روان لمریز کال په اوږدو کې په دریو برخو کې پیل شي. لومړی به د ٤٧ کیلومترو په اوږدوالي د خواف - هرات پروژې د څلورمې برخې، د ٧٠ کیلومتره په اوږدوالي به د اندخوی - شبرغان پروژې ساختماني چارې پیل او ورپسې به له هرات څخه تر مزارشریف پورې د ٦٥٧ کیلومترو په اوږدوالي د ډیټیل ډیزاین چارې ترسره شي.

## د مزار شریف- هرات- کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو موخه:


موخه یې د سوداګریزو اړیکو پراختیا ده. دا ځکه چې د ترانزیټي او مواصلاتي زیربناوو او لویو لارو له رغونې پرته د یوه هېواد ښېرازي او پرمختیا امکان نه لري.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د مزارشریف- هرات- کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** پـه گـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه ښـودل کېږي چـې د مزارشریـف- هـرات- کندهار ترمنځ د اوسـپنې پټلـۍ پـروژې د لومړنیـو کارونـو د پیلېدو راپـور يې په ویډیویـي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپـور کـړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټوېټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې



### تلویزیونونه




### راډیوګانې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه





### راډیوګانې




## ویبپاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## د مزارشریف-هرات-کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. ددې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت و څېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د مزارشریف- هرات- کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانې، ویاندویانو، خبري اژانسونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۲۶۲ دی. ددې نظرونو له جملې ۱۷۱۱مثبت دي. ۴۵۴منفي نظرونه او ۹۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۷۶ ٪، منفي ۲۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

۲. د مزارشریف- هرات- کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۹۷ دی. ددې نظرونو له جملې ۳۶۲ مثبت، ۸۲ منفي او ۵۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۳ ٪، منفي نظرونه ۱۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۱ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۷٦ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۳ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۱ او په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۴ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۰۷۳ مثبت نظرونه، ۵۳٦ منفي نظرونه او ۱۵۰سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۵ ٪ مثبت نظرونه، ۱۹ ٪ منفي نظرونه او ٦ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د مزارشریف- هرات- کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. ددې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د گوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونو بلکې سلگونو ته رسېږي.

- ریل پټلۍ د اقتصادي ودې او پرمختگ لپاره ډېر ارزښت لري او باید جوړه شي، دا یو نیک اقدام دی.
- دا پروژې باید عملي شي په جمهوریت کې به هم همداسې پروژې اعلانېدلې، خو په عمل کې به هېڅ هم نه وو.
- پر زیربنایي پروژو چې هر څومره پانگونه وشي بیا هم کمه ده. د کابل په تیره اداره کې داسې ستري پروژې هېڅ عملي نه شوې او نه یې پلان و، سره له دې چې هېواد ته پریمانه مرستې راغلې. الله پاک دې وکړي چې زموږ په هېواد کې ژر تر ژره زیربنایي پروژې پیل شي.

- هغه څه چې یو ملت ورته اړتیا لري، هغه ستر پروژې دي لکه د اوبو رسولو کانالونه، ریل پټلی، سړکونه او د سترو تولیدي شرکتونو جوړول.
- اول باید د ترانزیټي لارو پر جوړولو باندې کار وشي او وروسته بیا پر ریل پټلی کار پیل شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د ریل پټلی د جوړېدو خبر هرکلی کړی دی. دا پروژه یې د اقتصادي پرمختګ له پاره اړینه بللې ده او ویلي یې دي چې ریل پټلی د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره ډېر ارزښت لري او باید جوړه شي، دا یو نیک اقدام دی. په رښتیا هم د لویو لارو، سړکونو، ریل پټلی او دېته ورته نورو زیربناوو جوړول، د هېواد په پرمختګ او د اقتصاد په وده او غښتلي کېدو کې مهم رول لري. افغانستان داسې یو هېواد دی چې په وچه کې را ایسار دی او سمندر ته لار نه لري. دا چې له ګاونډیو په تېره بیا نړۍ سره خپله سوداګري پراخه او راکړه ورکړه ترسره کړي، نو اړینه ده چې له هغو لارو ګټه پورته کړي چې کولای شي په اسانۍ او په کم لګښت افغانستان له نړۍ سره ونښلوي او سوداګري پراختیا ورمومي. د ریل پټلی دا پروژه اسلامي امارت په همدې موخه پیلوي. موخه یې داده چې له یوه لوري افغانستان د اسیایي هېوادونو د اتصال په نقطه بدل کړي او له بل لوري هېواد له نړۍ سره ونښلوي. په دې دواړو صورتونو کې به افغانستان د ځان بسیاینې او اقتصادي خپلواکۍ په لور ولاړ شي.

**دویم**؛ یو شمېر خلکو بیا په خپلو نظرونو کې پر دا ډول سترو پروژو پانګونه مهمه بللې ده. دغه راز یادو کسانو دې خبرې ته هم اشاره کړې چې دا ډول پروژې باید عملي بڼه خپله کړي او د کابل د تیرې ادارې په شان یوازې تر شعار پورې محدودې نه وي. دوی وایي، دا پروژې باید عملي شي په جمهوریت کې به هم همداسې پروژې اعلانېدلې، خو په عمل کې به هېڅ هم نه و. پر زیربنایي پروژو چې هر څومره پانګونه وشي بیا هم کمه ده. د کابل په تیره اداره کې داسې سترې پروژې هېڅ عملي نه شوې او نه یې پلان و، سره له دې چې هېواد ته پریمانه مرستې راغلې. الله پاک دې وکړي چې زموږ په هېواد کې ژر تر ژره زیربنایي پروژې پیل شي. حکومتونه باید هر څه چې کوي او هر څه چې وایي هغه په عمل کې خلکو ته وښیي. اسلامي امارت تر دې مهاله په هېواد کې یو شمېر سترې، منځنۍ او کوچنۍ پروژې عملا پیل کړې دي. په دې پروژو کې د قوش تېپې کانال پروژه، د اوبو د سترو بندونو د پاتې چارو د بشپړولو پروژې، د لویو لارو بیارغونه او دې ته ورته نورې پروژې شته چې عملي چارې یې پیل شوې دي او هڅه داده چې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د مزارشریف، هرات، کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ غځولو پروژې طرح چمتو شوې او چارې به یې په راتلونکي کې پیل شي. اسلامي امارت تر ډېره بریده هڅه کوي څو هغه سترې پروژې چې کولای شي، له یوه لوري اقتصاد وده وکړي او له بل لوري په هېواد کې د بې روزګارۍ کچه راټیټه کړي پلې کړي. دغه راز ددې ریل پټلی په جوړیدو سره به هېواد د سیمې، ګاونډیو هېوادونو او نړۍ سره ونښلول شي او هم به هېواد د اسیا د اتصال پر نقطه بدل کړي. نو دلته ویلای شو

چې اسلامي امارت شعار نه بلکې هر څه په عمل کې خپل ملت ته وړاندې کوي چې پورتنۍ ځینې پروژې یې ښکاره بیلګه ده چې عملي کار یې روان دی.

✍ **دریېم؛** ځینې خلکو په خپلو نظرونو کې بیا ویلي دي چې دا ډول پروژې عملي کول هم د هېواد په ګټه دي او هم د هېوادوالو اړتیا ده. دوی وایي، هغه څه چې یو ملت ورته اړتیا لري، هغه سترې پروژې دي لکه د اوبو رسولو کانالونه، ریل پټلۍ، سړکونه او د سترو تولیدي شرکتونو جوړول. د دوی دا نظر پر ځای دی، ځکه د اوبو کانالونه، سړکونه، ریل پټلۍ او د تولیدي شرکتونو جوړول کولای شي، د هېواد د کرنې، صنعت او سوداګرۍ سکټورونه په پښو ودروي. ددې سکټورونو له رغیدو او ودې سره د هېواد اقتصادي پرمختګ رامنځته کېږي او د اقتصادي پرمختګ په رامنځته کېدو سره په هېواد کې شته اقتصادي ناخوالو ته پای ورکول کېږي. اسلامي امارت تل هڅه کړې چې هېواد له اقتصادي کړکیچ څخه را وباسي او د پرمختګ په لوري یې بوځي او ددې له پاره اړینه ده چې د هغو پروژو لکه د ریل پټلۍ، سړکونو او د مواصلاتي لارو رغونې ته لومړیتوب ورکړي. له دې لارې افغانستان کولای شي، خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي او هم د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې په اسیا کې د یوه ترانزیټي مرکز په توګه خپل رول ترسره کړي.

## پایله:

اقتصادي ټیکاو، پرمختللې ټولنه، ځمکنۍ بشپړتیا او دې ته ورته نور هغه څه دي چې ملتونه یې د ځان له پاره ټاکي. نن ورځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ددې له پاره نه ترسره کېږي چې اړتیاوې پوره کړي، بلکې تر دې لوړې موخې او اهداف یانې هوساینه هم له ځان سره لري. همدې ټکو ته په کتو د یوه هېواد د پرمختګ له پاره د ترانزیټ په برخه کې پانګونې ته اړتیا ده. د ترانزیټ له پاره د لویو لارو، سړکونو، د ریل پټلیو غځولو، هوایي کرښو او معیاري هوایي ډګرونو جوړول اړین دي، ځکه ددې ترانزیټي او مواصلاتو زیربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښیرازي او پرمختیا امکان نه لري. اسلامي امارت مسوولینو پورتنیو ټکو ته په پاملرنې سره دې برخې ته پوره توجه کړې ده. غواړي چې د نورو زیربناوو ترڅنګ د ریل پټلۍ غځولو یوه بنسټیزه پروژه پیل کړي. دوی پر دې باور دي چې افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی او د ځمکنیو لارو او ریل پټلۍ پرته نه شي کولای له ګاونډیو او په ټوله کې له نړۍ سره خپلې سوداګریزې اړیکې ټینګې او راکړه ورکړه ترسره کړي. دا پروژه به له داخلي عوایدو تمویلېږي او چارې به یې پرمخ ځي. یاده پروژه چې ۱۴۶۸ کیلومتره اوږدوالی لري، له ۹ ولایتونو، ۳۷ولسوالیو او ۸۰۰ کلیو څخه تیرېږي او په بشپړېدو سره به یې د افغانستان سوداګري پرمختګ وکړي. د افغانستان د صادراتو کچه به لوړه او عواید به زیات شي. دغه راز به د پروژې له عملي کېدو وروسته افغانستان د سیمې، ګاونډیو هېوادونو او په ټوله کې له نړۍ سره ونښلول شي. ددې ترڅنګ به افغانستان د اسیا د اتصال په نقطه بدل شي او په دې لویه وچه کې به د خپل جغرافیایي موقعیت له برکته د ترانزیټي مرکز په توګه خپل رول ترسره کړي. په دې سره به افغانستان د پرمختګ په لور ګامونه پورته کړي او دا هېواد به له اقتصادي کړکیچ څخه راووځي او د پرمختللو هېوادونو په کتار کې به ودرېږي. اسلامي امارت تل هڅه کړې ده چې بنسټیزې پروژې، هغه چې کولای شي افغانستان له اوسنیو حالاتو وباسي، پلې کړي. همدا پروژه د همدې لړۍ یوه کړۍ ده.

# بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره به کرنه او اقتصاد وده وکړي



## سریزه:

د اوبو سپما، په حقیقت کې د ژوند سپما ده. اوبه د اکسیجن په څېر حیاتي ارزښت لري. که اوبه نه وي، ژوند نشته. له همدې امله باید د اوبو سپما ته لومړیتوب ورکړل شي او په دې برخه کې اړین تدابیر ونیول شي. د اوبو په سپما کې هم حکومت مسوولیت لري او هم ولس. اسلامي امارت همدې ټکو ته په کتو په خپلو پروګرامونو کې د اوبو مهارول او ښه مدیریت کولو ته ځای ورکړی دی. ددې پروګرامونو له جملې یې یو هم د فراه د بخش آباد بند د پاتې چارو بشپړول او ګټې اخیستنې ته سپارل دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند فراه ولایت ته د خپل سفر پرمهال چې یو شمېر لوړپوړو مسوولینو یې ملتیا کوله، د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانیسته وکړه. محترم ملا صاحب د بخش آباد بند د پرانیستې مراسمو ته وویل، بخش آباد بند د فراه ولایت لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه ده او دوی په ټول توان د دغې پروژې په بشپړولو کې د فراه ولس تر څنګ ولاړ دي. دا وعده یوازې په الفاظو کې نه کوي، بلکې په ډېر اخلاص سره به یې چارې په عمل کې بشپړې کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د فراه ولسونو د ستونزو حل د ځان مسوولیت بولي، دوی باید تېر کال هڅه کړې وای چې سږ کال یې د دغه بند اوبه ذخیره کړې او ضایع شوې نه وای؛ خو اسلامي امارت ته د افغانستان ډېرې ستونزې په میراث ورپاتې دي چې په یو وخت کې ټولو حل ممکن نه دی. د افغانستان اقتصادي زیربناوو بیارغونه ډېر کار ته اړتیا لري او په جدي توګه یې هڅې پیل کړې، ترڅو په اقتصادي ډګر کې د ښو تحولاتو شاهدان واوسو. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، د فراه ولسونو د اسلامي نظام د راتلو لپاره ډېرې قربانۍ ورکړې دي، دا اوس د دوی مسوولیت دی چې د دې ولسونو ستونزو ته رسېدنه وکړي او هغه لویې پروژې ورته بشپړې کړي چې د دوی اقتصادي ستونزې پرې


حـل کېـدای شي. د بخـش آبـاد بنـد د پاتـې چـارو د بشـپړولو پـه برخـه کـې بـه لـه شـته امکاناتـو څخـه اسـتفاده وشي او لـه قـراردادي شرکـت څخـه يـې وغوښـتل چـې پـه اخـلاص او امانتـدارۍ سره ورسـپارل شـوې چـارې بشـپړې کـړي. پـه پـای کـې محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد ټـول ملـت تـه ډاډ ورکـړ چـې د اسـلامي امـارت مسـوولين د هېـواد د آبـادۍ او پرمختـګ لپـاره صـادق او ژمـن دي: «لـه ټـول ملـت نـه مـو هيلـه دا ده چـې د هېـواد پـه بيـا رغونـه کـې لـه خپـل حکومـت سره اوږه پـه اوږه ودرېـږي.» د بخـش آبـاد بنـد لـه ښـي لـوري د ٥٠ کيلومټـره او لـه چـپ لـوري د ٥٢ کيلومټـره کانـال پـه لرلـو د ٦٨ زره او ٥٩٠ هکتـاره کرنيـزې ځمکـې د خړوبولـو وړتيـا لـري چـې پيـل شـوې چـارې بـه يـې پـه نږدې راتلونکـي کـې بشـپړې شي.

## بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره د کرنې او اقتصادي ودې موخه:


موخـه يـې د کرنـې پراختيـا او د ښـاري ځمکـو آبادولـو ترڅنـګ د بريښـنا توليـد دی. پـه دې برخـه کـې د افغانسـتان پـه تيـره بيـا د فـراه وګـړي لـه ګڼـو سـتونزو سره مـخ دي او پـه بشـپړېدو بـه يـې پـه يـادو برخـو کـې سـتونزې راکمـې شي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره د کرنې او اقتصادي ودې» خبر يې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** پـه ګـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې بخـش آبـاد بند د پاتې چارو په بشـپړېدو سره د کرنې او اقتصـادي ودې راپـور یـې پـه ویډیویـي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپور کـړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه





#### توېټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




### راډیوګاني




### ویب پاڼي





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګاني



## ویبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره د کرنې او اقتصادي ودې خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټویټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټویټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره د کرنې او اقتصادي ودې په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو او ټویټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۴۱۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۰۷۷مثبت دي. ۲۴۹منفي نظرونه او ۹۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۰ ٪، منفي ۷ ٪ او سالم وړاندیزونه۳ ٪ دي.

۲. د بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره د کرنې او اقتصادي ودې خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانې، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او وېبپاڼو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۳۳۹۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۳۳۶ مثبت، ۱۸۸۱ منفي او ۱۱۷۶ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۷ ٪، منفي نظرونه ۱۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۹ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۰ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ۷۷ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۹ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ده.که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۳۴۱۳ مثبت نظرونه، ۲۱۳۰ منفي نظرونه او ۱۲٦۷سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۰٪ مثبت نظرونه، ۱۳ ٪ منفي نظرونه او ۷ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د بخش آباد بند د پاتې چارو په بشپړېدو سره د کرنې او اقتصادي ودې خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډېز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د گوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونو بلکې سلگونو ته رسېږي.

- اسلامي امارت چې د فراه ولایت د بخش آباد بند پاتې چارې پیل کړې دي، دا د فراه د خلکو غوښتنه وه. دغه بند د هېواد د کرنې، اقتصادي ودې او پرمختگ له پاره ډېر گټور دی او اسلامي امارت یې باید پاتې چارې بشپړې کړي. د دې بند په جوړېدو به د فراه د خلکو کرنیزو ځمکو ته اوبه پیدا او برېښنا به تولید کړي.

- محترم ملا عبدالغني برادر اخوند واقعاً چې خدمت ته ملا تړلې، هیله لرم چې د کونړ سیند اوبه هم مهار کړي. د کونړ په سیند د بند جوړولو سره به افغانستان د برېښنا انرژۍ له اړخه په ځان بسیا او گران هېواد به مو د ترقۍ په لور نور هم گړندی شي.

- افغان کارپوهان وایي، د افغانستان اوبه باید گاونډیو هېوادونو ته د تړون مطابق په حساب او اوصولو لاړې شي او ورته مهال له اسلامي امارته غوښتنه کوو چې په دې ملي موضوع کې په ډېر مدبرانه ډول گامونه پورته او له تېروتنو ځانونه وساتي.

- د بخش آباد بند د پاتې چارو پرانیسته یو پر ځای او نېک اقدام دی، د دې بند په جوړېدو به د فراه د ولسونو خوب په حقیقت بدل شي او فراه به سمسوره او اباده شي.

- دا یو ښه اقدام دی موږ یې ستایو خو چې د ټولو هغو بندونو کار شروع شي، چې افغانانو او افغانستان ته ګټه رسوي. د پکتیا مچلغو بند ډېر ضرور دی، د دې بند کارونه هم باید شروع شي.

- د بخش آباد بند جوړولو په موخه دې په ټول هېواد کې د پیسو راغونډولو کمپاین پیل شي، ټول خلک دې په دې ملي کمپاین کې ونډه واخلي، څو کارونه ژر تر ژره پای ته ورسېږي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ د خلکو په نظرونو کې د فراه ولایت د بخش آباد بند د پاتې چارو د پیلېدو تود هرکلی شوی دی. دوی په خپلو نظرونو کې دا بند د هېواد د کرنې او په ټوله کې د اقتصادي ودې له پاره ګټور بللی دی. دوی وایي، اسلامي امارت چې د فراه ولایت د بخش آباد بند پاتې چارې پیل کړې دي، دا د فراه د خلکو غوښتنه وه. دغه بند د هېواد د کرنې، اقتصادي ودې او پرمختګ له پاره ډېر ګټور دی او اسلامي امارت یې باید پاتې چارې بشپړې کړي. د دې بند په جوړېدو به د فراه د خلکو کرنیزو ځمکو ته اوبه پیدا او برېښنا به تولید شي. په رښتیا هم د بخش آباد بند د هېواد په کچه یو مهم بند دی چې تر کجکي بند وروسته د ډېرو اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري. بخش‌اباد بند اوس د فراه او شاوخوا ولایتونو د اوسېدونکو له اساسي او مهمو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي، د دغو سیمو اوسېدونکي د سطحي اوبو له جدي کمښت سره مخ دي چې له امله یې دوی اړ شوي، ترڅو د تېرو څو کلونو راهیسي له ځمکي لاندې اوبو څخه د زراعت او څښاک په موخه استفاده وکړي چې دا کار تر ځمکه لاندې اوبو زېرمې له منځه وړي او په راتلونکي کې یو ناورین زېږولی شي. د بخش آباد بند د پاتې چارو په پیلولو سره چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او یو شمېر حکومتي لوړو پوړو چارواکو له لوري د روان کال د ثور میاشتې په ۳۰مه نېټه یې پرانیسته وشوه، دا په ډاګه کوي چې اسلامي امارت دې ته ژمن دی چې ټولې هغه پروژې او بندونه چې کولای شي سطحي اوبه مهار کړي او له مخې شاړې دښتې په کرنیزو ځمکو بدلې شي، عملي کړي. د اوبو په مهارولو سره به افغانستان د کرنې وړ اوبه پیدا او کومې ځمکې یې چې لا هم د کرنې وړ نه دي، په کرنیزو هغو بدلې او ورسره به د برېښنا په برخه کې شته ستونزو ته پای ورکړل شي. دغه دواړه چارې به بیا د هېواد پرمختګ او پر خپلو پښو درېدل تضمین کړي. د دې ټولو ترڅنګ به د اوبو په برخه کې د فراه د خلکو ستونزې هوارې شي او کرنه به یې وده وکړي.

**دویم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د بخش آباد بند د جوړولو له پاره د پیسو راغونډولو کمپاین غوښتنه کړې ده. دوی ویلي چې په دې ملي کمپاین کې دې ټول خلک ونډه واخلي، څو دا ستره پروژه ژر تر ژره پای ته ورسېږي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د اسلامي امارت پوره ملاتړ کوي. په رښتیا هم هغه حکومتونه تل بریالي وي چې ملتونه یې تر شا ولاړ وي. اسلامي امارت هم د یوه حکومت په توګه د خلکو اقتصادي وضعیت ښه کېدو

او د دوی د ژوند د کچې لوړولو لـه پـاره خپلـې هلـې ځلـې نـه دي سـپمولې او تل یې هڅه کـړې ده چې افغانسـتان په هـر برخـه کـې خودکفایـی تـه ورسـوي. د بخش آباد بنـد د تونلونو جوړولـو او د کارونو بشـپړول د دې هلو ځلو یوه ښـکاره بېلگه ده. دافغانسـتان اسـلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت د یاد بند په جوړېدو کې د خلکو د ونډې اخیسـتو په موخه بانکي حسـابونه پرانیسـتې دي چې دا یو ښـه اقدام دی او خلک یې هم غوښـتونکي دي. دا چې په ملي کچه د یاد بند رغولـو لـه پـاره کمپایـن وشي، دا خـو د خلکـو حسـن نیت په ډاگـه کوي او چـې خلک په هر برخـه کې د اسـلامي امارت سره همداسـې ودرېـږي نـو لـرې نـه ده چـې افغانسـتان به په لنډ وخـت کې د پرمختـگ لوړو پوړیـو ته ورسـېږي. دغه راز اسـلامي امـارت نـه یـوازې بخـش آبـاد بنـد، بلکـې د هېواد پـه کچه یې د سـطحي اوبـو د مهارولـو او مدیریت پـه موخه یو پـه بـل پسـې گامونـه پورته کـړي دي. په بېلا بېلو ولایتونو کې د سترو بندونو ترڅنـګ د واورو او بارانونو اوبـو د مهارولو له پـاره کوچنـي او متوسـط بندونـه رغـولي دي چې ښـه بېلگه یې مـوږ د زابل ولایت د تـوري د اوبو بند بللی شـو چې چارې یـې عمـلاً روانـې دي. د داسـې بندونـو پـه جوړېـدو سره بـه لـه یـوه لـوري د سېلابونو له املـه د اوښـتو زیانونو مخـه نیول شـوې وي او لـه بـل لـوري بـه د اوبو د ضایع کېـدو مخنیوی وشي. لـه دې سره به په ولایتونو کې د همـدې ډول بندونو له برکتـه شـته کرنیـزې ځمکـې خړوبـې، تـر څمکه لانـدې اوبـو زېرمې به تغذیـه او تر یـوه بریده به شـاړې ځمکې پـر کرنیزو هغـو بدلـې شي. دغـه راز بـه د بزگرانـو پـه ژونـد کې بدلـون راشي او هم بـه مو سـوداگري پراخه او کرنیز محصـولات به مو د پـام وړ زیاتوالـی وموـمي. دا ټـول بیـا د مـلي اقتصاد پـه وده او پیاوړتیا کې رغنـده رول لوبولی شي.

✍ **درېیم**؛ دلتـه خلکـو ځینـې وړاندیزونـه هـم کړي دي چې د پاملرنې وړ دي. دوی پـه خپلو وړاندیزونـو کې ویلي، چې اسـلامي امـارت دې د هېـواد پـه نـورو ولایتونـو کـې هـم د هغـو بندونـو چـارې پیـل کـړي چـې پخوا یې څـه نا څـه کارونه شـوي او نـور پاتـې دي. دغـه راز دوی وړاندیـز کـړی چـې د هېواد په پربېمانه اوبو دې ځینې سـتر بندونه هـم ورغول شي، څـو افغانسـتان هـم د کرنیـزو محصولاتـو او هـم د برېښـنا پـه برخه کې پـر ځـان بسـیا شي. د دوی دا وړاندیزونـه پر ځای دي، خـو د بندونـو جـوړول زیـات لگښـت لـري. اسـلامي امـارت هڅـه کـوي چـې د اوبـو د مهارولـو پـه برخه کـې پانگونه وکـړي او بندونـه ورغـوي، خـو دا کار ورو ځکـه پرمخ بیایـي چـې امکانـات ورتـه برابـر کـړي. نـن سـبا د نړیوالـې ټولنې له لـوري پـر افغانسـتان بـې رحمانـه بندیزونـه لگېـدلي دي او د افغانسـتان پـر اقتصاد یـې ناوړه اغېـزه کړې ده چـې له امله یـې ډېـری پـروژې نیمگـړې پاتـې او یـا یـې هم کارونـه نه پیلېږي. خـو له دې ټولـو سره سره اسـلامي امارت تـر دې مهاله د اوبـو مهارولـو پـه برخـه کـې گامونـه پورته کـړي دي چې د بخـش آباد بند یې ښـه بېلگـه ده. د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد د بخش آباد بنـد د تونلونو جوړولو چارو پرانیسـت غونډې تـه په خپلو خبرو کـې وویـل، اسـلامي امـارت جـدي تـه د افغانسـتان ډېـرې سـتونزې پـه میـراث ورپاتـې دي چـې د ټولـو حل په یـو وخت کـې ممکـن نـه دی. د افغانسـتان اقتصـادي زیربنـاوو بیارغونـه ډېـر کار تـه اړتیا لـري او په جـدي توگه هڅه کـوي، ترڅو پـه اقتصـادي ډگـر کـې د ښـو تحولاتو شـاهدان واوسـو. لـه دې څخه جوته شـوه چې د امکاناتـو په رامنځته کېـدو سره به یـو پـه بـل پسـې هغـه پـروژې عمـلي شي چـې له مخې یـې هېواد هـم د کرنیـزو محصولاتـو او هم د برېښـنا پـه برخه کې پـر ځان بسـیا شي.

## پایله

افغانسـتان چـې د طبیعـي اوبـو پراخـې سرچینـې لـري، کـه چېـرې پـه سـم ډول مدیریـت او مهـار شي نـو دا جگـړه ځپلی هېـواد بـه د پرمختـگ پـه لـور روان شي. ځکـه اوبـه هغـه څـه دي چـې کـولای شي، کرنـې تـه وده ورکـړي او ترځنـگ یـې برېښـنا تولیـد کـړي. د دې دواړو پـه ودې او پرمختـگ سره بیـا د هېـواد پرمختـگ رامنځتـه کېـږي. افغانسـتان تر اوسـه له خپلـو اوبـو څخـه ډېـره کمـه گټـه اخیسـتې ده. کـه چېـرې د هېـواد لـه پرېمانـه اوبـو څخـه پـه لـوړه کچـه اسـتفاده وشي، مدیریـت او مهـار شي، نـو افغانسـتان بـه لـه دې لارې پـه کال کـې زیـات عواید ترلاسـه کړي. بـې وزلي به نـه وي، بېکاري بـه نـه وي، د خلکـو د ژونـد سـطحه بـه لـوړه او صنعـت او کرنـه بـه پرمختلـلي وي. نـه بـه یـو مـصرفي هېـواد یـوو، بلکـې یـو صـادراتي هېـواد بـه ولـرو. هـر کال افغانسـتان د برېښـنا پـه مقابـل کې گاونډیـو هېوادونو تـه مېلیونونـه ډالر ورکـوي، دا به سـپما شي. هېـواد بـه مـو د اوبـو پر مهارولو سره آبـاد شي او په راتلونکی کې بـه د نړۍ په کچه د انرژۍ صادرونکي واوسـو. پورتنیـو اړتیـاوو او شـته فرصتونـو تـه پـه کتـو اسـلامي امـارت پـه بیـا واکمنېـدو سره د اوبو مهارولـو ته پـه خپلـو لومړیتوبونو کـې ځـای ورکـړی دی. د بخـش آبـاد بنـد د پاتـې چـارو پرانیسـته او د چـارو عمـلي پیـل یـې یوه ښـه بېلگه ده. د اسـلامي امـارت مسـوولینو پـه خپلـو خـبرو کـې تل ویـلي دي چې ټولې هغـه لارې چارې بـه وکاروي چې لـه مخې یې د افغانسـتان اقتصـاد ورغـول شي. خـو دوی بیـا د امکاناتـو خـبره هـم کـوي چـې پـه اوسـمهال کـې د ټولـو زیربنایـي پـروژو په یـو وخت پیلـول سـتونزمن دي، ولـې پـه اوږدمهالـه کـې بـه د هېـواد ټولـې زیربنـاوې ورغـول شي او هېواد بـه په اقتصـادي ډگر کې پـوره پرمختـگ وکړي.

# د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د بېلابېلو پروژو منظورېدل



**سریزه:**

په دې کې شک نشته چې د نورو سیاسي، ټولنیزو او کلتوري مسایلو ترڅنګ عامه هوساینه د دولتونو له مهمو او بنسټیزو دندو څخه شمېرل کېږي. ځکه حکومتونه ځانونه د ملتونو او ولسونو خادمان بولي او غواړي د نړۍ د نورو ملتونو په څېر یې ولسونه د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي. د ژوند له ستونزو لرې وي او په ارامه فضا کې خپل ژوند ته دوام ورکړي. حکومتونه د داسې فضا د رامنځته کېدو له پاره د خلکو او ټولنې اړتیاوو ته په پاملرنې سره خپل عواید او لګښتونه په کره ډول سنجوي او بیا یې له مخې پروګرامونه او پلانونه چمتو کوي، ترڅو عامه هوساینه رامنځته کړي. اسلامي امارت همدې ټکو ته په کتو خپل ټول تمرکز پر هغو مسایلو راټول کړی دی چې کولای شي د هېواد د پرمختګ او هوساینې لامل وګرځي. ددې ټکو له جملې څخه یو هم د افغانستان د زیربناوو جوړول او په ټوله کې بیارغونه ده چې کولای شي اقتصادي ستونزې له منځه یوسي او هېواد د پرمختګ په لور روان کړي. په همدې موخه اسلامي امارت د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ کړی او هڅه کوي د بیارغونې، برېښنا، تدارکاتو، خدماتو او طبیعي زیرمو په برخه کې پلان شوې پروژې منظورې کړي. ځکه ددې پروژو په بشپړېدو سره لومړی د بې کارۍ ستونزه هوارېدی شي، بله دا چې اقتصادي ودې ته لار پرانیستل کېږي، سوداګري پراختیا مومي او د عوایدو کچه لوړېږي، له دې سره په هېواد کې د بې وزلۍ کچه راټیټه او د خلکو د ژوند کچه لوړېږي. د ملي تدارکاتو کمېسیون چې مشري یې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه ده، په خپله وروستۍ نوبتي غونډه کې چې د ۱۴۰۲ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه، له اجنډا سره سم پر ۲۴ پروژو مفصل بحث وشو چې د ۹پروژو قراردادونه منظور، د ۲ پروژو قراردادونه لغوه او د پاتې نورو پروژو په اړه ګډو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو یې


تخنیکـي ارزونـه تـرسره او خپـل راپـور د مـلي تدارکاتـو کمېسـیون راتلونکـې غونـډې تـه وړانـدې کـړي. پـه منظـور شـوو پـروژو کـې د کانونـو او پټرولیـم وزارت، لـوړو زده کـړو وزارت، ټولګټـو چـارو وزارت، پوهنــې وزارت، افغـان مـلي بانـک، د افغانسـتان بریښـنا شرکـت او کابـل ښـاروالۍ بېلابېلـې پـروژې شـاملې دي چـې ټولیـز ارزښـت یـې ۷۴۰ مېلیونـو افغانیـو تـه رسـېږي. دغـه پـروژې د کابـل پـه ګـډون پـه پنجشـیر، کاپیسـا، خوسـت او نیمـروز ولایتونـو کـې پلـې کېـږي. پـه دې پـروژو کـې د سـړک، پـل جوړولـو، د انټرنیـټ لـه لارې د پوهنــې وزارت لـه ولایتـي ریاسـتونو سره د نښـلولو، د اور وژنــې د نقیلـه وسـایطو پیرلـو، احاطـوي دیوالونـو، د افغـان مـلي بانـک ودانــۍ جوړولـو او د دولتـي پوهنتونونـو د لیلیـو د ۳۴ قلمـه توکـو برابرولـو پـروژې شـاملې دي. ددې پـروژو لګښـت د اسـلامي امـارت لـه بودیجــې څخـه ورکـول کېـږي.

## د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د بېلابېلو پروژو منظورېدلو موخه:


موخه یې بیارغونه، خلکو ته د کاري زمینې برابرول او په ټوله کې د هېواد د پرمختګ له پاره د لارې هوارول دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د پروژو منظورېدلو» خبر یې خپور کړی دی:

### الف: دولتي رسنۍ:





### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:


**یادونه:** پـه **ګـراف** کـې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې د ملـي تدارکاتـو کمېسـیون لـه لـوري د ۷۴۰مېلیونو افغانیـو پـه ارزښـت د پـروژو منظورېدلـو راپـور یـې پـه ویډیویـي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپور کـړی دی.





## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### توېترپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ویب پاڼې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګانې




## ويبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزوني ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزوني ټولګه



## د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د پروژو منظورېدلو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت و څېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د بېلابېلو پروژو منظورېدلو په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۹۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۷۸ مثبت دي. ۱۰ منفي نظرونه او ۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۵، ۹۸ ٪، منفي ۱ ٪ او سالم وړاندیزونه۵، ۰ ٪ دي.

۲. د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت د پروژو منظورېدلو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ویبپاڼو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۰ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۸ مثبت، ۷ منفي او ۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۵ ٪، منفي نظرونه ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ٦ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۵، ۹۸، په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۵ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ٦ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۵، ۰ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۹۴٦ مثبت نظرونه، ۱۷ منفي نظرونه او ۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۷ ٪ مثبت نظرونه، ۲ ٪ منفي نظرونه او ۱ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره برېده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۷۴۰مېلیونو افغانیو په ارزښت د بېلابېلو پروژو منظورېدلو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. ددې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مورږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د افغانستان اسلامي امارت په ډېر کم وخت کې زیاتې پراختیایي پروژې د هېواد په مختلفو برخو کې پلې کړې دي چې د هېواد د ابادۍ او ښه راتلونکي لپاره یو ښه زیری دی.
- کلونه کېږي چې د جوزجان ولایت شپېته متره سړک چارې نیمګړې پاتې دي، د اسلامي امارت له مسوولینو غواړو چې دې سړک ته پاملرنه وکړي او ویې رغوي.
- مسوولینو څخه غواړو، د هغو ساختماني شرکتونو پاتې پیسې دې ورکړي چې پروژې یې بشپړې کړې دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی؛** خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي چې اسلامي امارت په لنډ وخت کې پر دې وتوانېد چې د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې پراختیایي پروژې پلې کړي. دوی ته دا یو ښه زیری دی. په رښتیا هم اسلامي امارت داسې مهال واک ته ورسېد چې په هېواد کې اقتصادي کړکیچ مخ په ډېرېدو و. هر څه په ټپه ولاړ و، بې کارۍ خلک تر پوزې رسولي و. لنډه دا چې اسلامي امارت ته ډېرې ستونزې ور پاتې وې. ددې ترڅنګ نړیوالو هم خپلې مرستې ودرولې او پر دې یې هم بسنه ونه کړه او په اسلامي امارت یې یو لړ نور بندیزونه هم ولګول. دې ټولو لاس سره ورکړي او هڅه دا وه چې د افغانستان اقتصاد نور هم له پښو وغورځوي. ولې اسلامي امارت په پوره ځرکتیا او هوښیارۍ داسې ګامونه پورته کړل چې ویې کولای شول، اقتصادي شیرازه بیرته کوشیر، بانکي سیستم له شړېدو را وګرځوي او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت وساتي. ددې ترڅنګ یې سملاسي د داخلي عوایدو پر راټولولو پیل وکړ چې دادی اوسمهال د همدې عوایدو پرمټ د هېواد اقتصادي رغونې روانه ده. د اقتصادي رغونې له پاره اقتصادي کمېسیون او د هېواد رغونې په برخه کې د چارو د چټکتیا په موخه د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ شول چې د دواړو مشري د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه لري. تر دې وخته یاد کمېسیونونه په خپلو چارو کې بریالي دي او د میلیاردونو افغانیو په ارزښت یې له سترو پروژو نیولې بیا تر متوسطو او کوچنیو پروژو پورې منظورې کړې دي چې په بشپړېدو به یې هېواد په اقتصادي، سوداګریز او ترانزیټي ډګر کې پرمختګ وکړي، ددې تر څنګ به د بې کارۍ ستونزه هواره او د خلکو د عوایدو کچه به ورسره لوړه شي.

✍ **دویم؛** یو شمېر خلکو بیا په خپلو ولایتونو کې د هغو لویو لارو د رغونې غوښتنه کړې ده چې چارې یې نیمګړې پاتې دي. دوی دا هم ویلي چې د هغه شمېر ساختماني شرکتونو پاتې پیسې دې ورکړل شي چې خپلې پروژې یې بشپړې کړې دي. دوی زیاتوي، کلونه کېږي چې د جوزجان ولایت شبرغان متره سړک چارې نیمګړې پاتې دي، د اسلامي امارت له مسوولینو غواړو چې دې سړک ته پاملرنه وکړي او ویې رغوي. له مسوولینو څخه غواړو، د هغو ساختماني شرکتونو پاتې پیسې ورکړي چې پروژې یې بشپړې کړې دي. د دوی نظرونه او وړاندیزونه د قدر وړ دي. اسلامي امارت په ټول هېواد کې د بیارغونې چارې پیل کړې دي. په تیره بیا د سړکونو رغولو ته یې زیات پام اړولی دی. ځکه د سړکونو په جوړېدو د سوداګرۍ برخه پیاوړې کېږي او دغه راز مارکیټونو ته پر وخت د کرنیزو محصولاتو د لېږد ترڅنګ د خلکو د تګ را تګ په برخه کې شته ستونزې هم هوارېږي. همدا اوس په زیاترو ولایتونو کې د سړکونو او لارو د بیارغونې او جوړونې کارونه روان دي. اسلامي امارت د هرې پروژې له پاره پلان لري او د امکاناتو په برابرېدو سره یې چارې هم پیلوي. بله دا چې ځینو هېوادوالو ویلي وو چې د ساختماني شرکتونو پاتې پیسې دې ورکړل شي. دا د یادو شرکتونو حق دی او اسلامي امارت هغو شرکتونو ته چې پروژې یې بشپړې کړې دي، د دوی د حقوقو ورکړې ته ژمن دی. خو د کابل د تیرې اداري پر مهال په هېواد کې چې کوم ساختماني شرکتونه وو او پروژې یې پرمخ بیولې، په زیاترو پروژو کې زیاتې ستونزې او نیمګړتیاوې موجودې دي. د انجنیرۍ له اصولو سره سمې

نـه دي بشـپړې شـوې. یـو شـمېر پـروژې بیـا داسـې دي چې پیسـې د بشـپړې پروژې اخیسـتل شـوې، خـو د پروژې کارونـه نیمگـړي پاتـې دي. اسـلامي امـارت دا مهـال په دې برخه کـې کار کوي چې د ټولو سـاختماني شرکتونو سره لومـړی د پـروژو پـه برخـه کـې شـته سـتونزې او نیمگړتیـاوې لـه منځـه یـوسي او تـر هغـه وروسـته بـه د هغـو شرکتونو حسـابونه ورکـړي چـې پـه پـوره امانتـداری یـې خپلـې پـروژې لـه معیارونـو سره سـمې بشـپړې کـړې دي. ددې ټولو تصفیـه وخت تـه اړتیـا لري.

## پایله

د اسـلامي امارت له راتگ وړاندې په افغانسـتان کې د رسـنیو، دولتي خلکو، ولسي خلکو،لوسـتو او نالوسـتو په ذهنونو کې د هېـواد د پرمختـگ، رغښـت، آبـادۍ او ثبـات د لا پیاوړتیـا فکرونـه موجـود و، خـو تر ټـنگ یـې ددې ټولو مثبتـو او ملي کړنو مخنیـوی فسـاد یادېـده. همـدا اداري فسـاد و چـې د افغانسـتان د تباهـۍ، ورانـۍ، وحشـت، ټولنیـز وروسـتوالي او ویجاړۍ لامـل گرځېدلـی و. دا چـې اسـلامي امـارت واک تـه ورسـېد، نـو لومـړی گام یـې چـې پورتـه کړ هغـه په هېـواد کـې دې ناوړه پدیـدې تـه پـای ورکـول و. اسـلامي امـارت پـر دې هـم بسـنه ونـه کـړه او د چـارو د لا روڼتیـا او شـفافیت لـه پـاره یـې ځینـې نـور گامونـه هـم پورتـه کـړل، لکـه د پـروژو پـه برخـه کـې د چټکتیـا او شـفافیت د رامنځتـه کولـو لـه پاره یـې د ملـي تدارکاتو کمېسـیون جـوړ کـړ او مـشري یې د ریاسـت الـوزرا اقتصادي مرسـتیال محترم مـلا عبدالغني بـرادر اخوند ته وسـپارله. ددې کمېسـیون پـه نوبتـي غونـډو کـې د مېلیونونـو افغانیو په ارزښـت پـروژې منظورې شـوې. په وروسـتۍ نوبتي غونـډه کې یې د ۷۴۰ مېلیونـو افغانیـو پـه ارزښـت د بیارغونـې تـر ځنگ د تدارکاتـو په برخه کې بېلابېلې پـروژې منظورې کـړې. له دې ځخه معلومېـږي چـې اسـلامي امـارت له اداري فسـاد سره د مبـارزې ترڅنگ د خپلو چـارو د چټکتیا په موخه کوټلـي گامونه پورته کـړي او پـه دې برخـه کـې هـر ډول هلـې ځلـې خپل مسـوولیت بولي.

# د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميه




**سريزه:**


د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه نړيوال بانک د ۲۰۲۳ ميلادي کال د مې مياشتې په ۳۰مه نېټه راپور خپور کړ. په دې راپور کې د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه واقعيتونه راغلي و. د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د اقتصادي وضعيت په تړاو منعکس شوي واقعيتونه وستايل او پر دې باور دی چې په راپور کې راغلي واقعيتونه او موضوعات د اقتصادي خوځښت په برخه کې هغه روښانه انځور دی چې ياد بانک نړۍ ته وړاندې کړی دی. په دغه راپور کې ويل شوي چې د خوراکي توکو او نفتي موادو بيې ټيټې شوې، د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانيو ارزښت ثابت پاتې شوی، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوايدو کچه هم زياته شوې، د دولتي کارمندانو معاشونه پر وخت ورکړل شوي، په هېواد کې دننه د خوراکي توکو توليد لوړ شوی او له بانکونو څخه د پيسو په ايستلو کې اسانتياوې رامنځته شوې دي. د افغانستان اسلامي امارت وايي چې که نړيواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه کړي، نو له شک پرته افغانستان به په اقتصادي برخه کې نور هم پرمختګ وکړي او بار به يې د نړيوالې ټولنې له اوږو سپک شي. که چېرې د نړيوال بانک په څېر ټول نړيوال سازمانونه د افغانستان په اړه نړۍ ته د دې هېواد واقعي او رښتينی انځور وړاندې کړي؛ نو له يو لوري به نړۍ پر حقيقي وضعيت خبره شي او له بل لوري به له اسلامي امارت سره مثبت تعامل ته لاره هواره شي. د افغانستان اسلامي امارت پر ټولو نړيوالو سازمانونو او مرستندويه ادارو غږ کوي چې له اسلامي امارت سره د افغانستان په بيارغونه کې لاس ورکړي، په دې کار سره به د بې‌کارۍ کچه راکمه او د هېواد پر اقتصادي وضعيت به لا ډېر مثبت تاثير ولري. اسلامي امارت له نړيوال بانک څخه غواړي چې د افغانستان په اړه د واقعيتونو خپرولو تر څنګ، هغه پروژې چې د دې سازمان له لوري تمويلېدې او اوس يې کارونه نيمګړي پاتې دي، بېرته پيل او چارې يې بشپړې کړي.

## د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميې موخه:


موخه يې داده چې اسلامي امارت د هغو نړيوالو بنسټونو راپورونه چې د هېواد رښتينی انځور نړيوالو ته وړاندې کوي، ستايي او په دې باور دی چې د اسلامي امارت په راتګ سره هېواد هم په سياسي او هم په اقتصادي، ټولنيز او کلتوري برخه کې زيات پرمختګونه کړي دي. له دې پرمختګونو څخه بايد نړۍ خبره شي او د مخالفت پر ځای مثبت تعامل ته مخه کړي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميې» خبر يې خپور کړی دی**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**يادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو يې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميې خبر خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د يادې اعلاميې په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه





#### تویټرپاڼې





#### وياندويان





#### ورځپاڼې



### تلویزیونونه




### ویب پاڼې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګانې



## ویبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزوني ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزوني ټولګه



## «د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميه» په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو څېړنې او ارزونې موخه د خلکو نظرونو ته پاملرنه ده. دا ارزونه خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نيوکې او وړانديزونه شريک کړي.

### افغانستان کې له ټولنيزو شبکو د ګټې اخيستنې واقعيت

که په ټولنيزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعاليت و څېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زياتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو ټوېټر بيا د رسمي- حکومتي مسوولينو او د سياسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالانو له لوري زيات کارول کېږي. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعاليت لري. ولې د رسنيو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنيزې شبکې او همدارنګه د سياسي، اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د ياد خبر په اړه رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. «د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميه» د تلويزيونونو، ويب پاڼو، خبري اژانسونو، ټوېټر پاڼو، وياندويانو او ورځپاڼو په ګډون په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنيو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۶۳۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۸۸ مثبت دي. ۲۷منفي نظرونه او ۱۵ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ۹۳ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړانديزونه۳ ٪ دي.

۲. «د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت اعلاميه» د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويب پاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۸۵ دی. ددې نظرونو له جملې ۱۵۴ مثبت، ۲۲ منفي او ۹ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳ ٪، منفي نظرونه ۱۲ ٪ او سالم وړانديزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه له خصوصي هغو لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو کچه له دولتي هغو زیاته ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۲ چې په دولتي کې دا سلنه ۴ او په یادو رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۵ ته رسیږي، خو په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۳ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۷۴۲ مثبت نظرونه، ۴۹ منفي نظرونه او ۲۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۱ ٪ مثبت نظرونه، ٦ ٪ منفي نظرونه او ٪۳ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی هغه خبرونه چې د هېواد ګټې پکې نغښتې او مثبت وي په زیاته کچه د رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو له لوري خپرېږي او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. هغه خبرونه چې ملي ګټې رانغاړي، خلک یې په اړه نظر ورکوي او تر ډېره بریده دا نظرونه بیا مثبت وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري هر ګام چې د هېواد او هېوادوالو په ګټه وي او د افغانستان د پرمختګ لامل ګرځي، ستایي او په مثبت نظر ورته ګوري.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- د نړیوال بانک په اعلامیه کې چې څه ویل شوي دي، رښتیا دي، ځکه په تیرو شلو کلونو کی اول ځل دی چې افغانستان خپله عادي او انکشافي بودیجه له داخلي عوایدو څخه تمویلوي. افغانستان مخ پر وړاندې روان دی.
- همدا چې په داسې حالاتو کې یې تورم کنټرول کړ، همدا خپله یو شاهکار دی.
- نړیوال بانک د هغو لس زره کسانو معاشونه نه دي ورکړي چې ددې بانک په پروژو کې یې کار کاوه. له تحول وروسته یاد بانک په افغانستان کې خپلې چارې ودرولې او ددې کسانو معاشونه یې له ځان سره یووړل. نړیوال بانک دې ددغو کسانو معاشونه ورکړي.
- د نړیوال بانک له لوري چې کوم راپور خپور شوی دی واقعاً د ستاېلو دی، ځکه واقعیتونه یې ویلي دي. د افغانستان په اړه د هر شه خبر په اورېدو خوشحالېږو. اوس دې هېواد خپل اصلي څښتن پیدا کړ، غله ورک شول.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې ددې راپور ستاینه کړې ده او ویلي یې دي، هغه څه چې په راپور کې راغلي یو واقعیت دی، ځکه په تیرو شلو کلونو کې لومړی ځل دی چې افغانستان خپله عادي او انکشافي بودیجه له داخلي عوایدو څخه تمویلوي. په رښتیا هم چې د اسلامي امارت په بیاواکمنېدو سره افغانستان په اقتصادي ډګر کې د پاموړ لاسته راوړنې درلودلې دي. که موږ او تاسو وګورو د افغانستان سوداګري پراخه شوې، د بیارغونې چارې روانې دي، لویې لارې او ریل پټلۍ مخ په جوړېدو دي، د صادراتو او عوایدو کچه لوړه شوې ده. دا هغه څه دي چې افغانستان په څېر هېواد له پاره چې له اقتصادي پلوه کمزوری دی، آب حیات دي. ځکه که ورته ځیر شو دا مهال افغانستان، له نړیوالو له ظالمانه بندیزونو سره مخ دی. شتمني یې کنګل شوې او مرستې په ټپه ولاړې دي. خو اسلامي امارت د بندیزونو له پاره د بدیلو لارو چارو په لټولو بوخت دی، له ګاونډیو هېوادونو او د نړۍ له یو شمېر هېوادونو سره یې سوداګریزې اړیکې پراخې کړې دي. خپل محصولات ددغو هېوادونو مارکیټونو ته استوي چې له مخې یې هم سوداګري پراخه شوې او هم مو په صادراتو او عوایدو کې زیاتوالی راغلی دی. که په همدې شان مخ ته ولاړو شو، نو په پوره یقین سره ویلای شو چې نړیوال بندیزونه به هم بې اغیزې پاتې شي. بله دا چې اوسمهال نړیوال سازمانونه لکه نړیوال بانک سوکه سوکه په افغانستان کې ترسره شوي پرمختګونه حس کوي او نه شي کولای سترګې پرې پټې کړي.

✍ **دویم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د نړیوال بانک له لوري د هغو خلکو د معاشونو د ورکړې غوښتنه کړې ده، کومو چې د یاد بانک له لوري په تمویلېدونکو پروژو کې کار کړی دی. دوی وایي، نړیوال بانک د هغو لس زره کسانو معاشونه نه دي ورکړي چې ددې بانک په پروژو کې یې کار کاوه. له تحول وروسته یاد بانک په افغانستان کې خپلې چارې ودرولې او ددې کسانو معاشونه یې له ځان سره یووړل. نړیوال بانک دې ددغو کسانو معاشونه ورکړي. د دوی نظر د قدر وړ دی او دا یې حق هم دی، ځکه کار یې کړی دی او خپل حقوق باید ترلاسه کړي. اسلامي امارت دې ته ژمن دی چې حق حقدار ته ورسېږي، خو خبره داده چې دا یو نړیوال سازمان دی او بله دا چې اوسمهال په افغانستان کې کومه نماینده ګي هم نه لري چې اسلامي امارت وکولای شي ددې خلکو د معاشونو غوښتنه وکړي. دوی کولای شي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د شته نماینده ګیو له لارې خپلې غوښتنې تر یاد بانک پورې ورسوي.

✍ **دریيم**؛ یو شمیر خلکو بیا د اسلامي امارت له لوري په افغانستان کې د تورم مسلې ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي، دا چې اسلامي امارت په داسې حالاتو کې تورم کنټرول کړ، همدا خپله یو شاهکار دی. اسلامي امارت په رښتیا هم په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته شوي دي. د نړیوال بانک په راپور کې هم ویل شوي دي چې افغانۍ د نړیوالو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت ساتلی، د خوراکي توکو او نفتي موادو بیې راټیټې شوې او بانکي سیستم کې اسانتیاوې رامنځته شوې دي چې دا ټول د تورم په کنټرول دلالت کوي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي

امارت د یوه مسوول حکومت په توګه هڅه کوي چې افغانستان له سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پلوه یو پر ځان بسیا هېواد کړي.

## پایله

د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره په افغانستان کې یو پیاوړی مرکزي حکومت رامنځته شوی دی. د هر حکومت دنده داده چې د هېواد پرمختګ تضمین کړي. اسلامي امارت وکولای شول چې اقتصادي حالت له نزولي څخه صعودي ته طرف ته بوځي. سوداګري پراخه او پر مټ یې د عوایدو کچه لوړه کړي. مالیاتي سیستم فعال او پر وخت او شفاف ډول مالیې راغونډې کړي. همدا لامل دی چې په هېواد کې تر ډېره بریده اقتصادي ثبات رامنځته شوی دی. دادی اوس نړیوال سازمانونه هم په دې اعتراف کوي چې د اسلامي امارت له واکمنېدو راهیسې اقتصاد ښه شوی دی. دوی په خپل راپور کې کاږلي چې د خوراکي توکو او نفتي موادو بیې ټیټې شوې، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت ثابت پاتې شوی، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه زیاته شوې، د دولتي کارمندانو معاشونه پر وخت ورکړل شوي، په هېواد کې دننه د خوراکي توکو تولید لوړ شوی او له بانکونو څخه د پیسو په ایستلو کې اسانتیاوې رامنځته شوې دي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت په خپلو کارونو کې بریالی دی. که چارې همداسې مخ ته ولاړې شي، نو لرې نه ده چې افغانستان به ډېر ژر پرمختګ وکړي او وګړي به یې د هوسا او ارام ژوند مزه وڅکي.

# لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونه لاسلیک شول



## سریزه:

په اوسمهال کې له معلوماتي ټکنالوژۍ او مخابراتو ګټه اخیستنه ډېره مهمه ده او دې چارې د حکومتونو د پرمختګ له پاره لار هواره کړې ده. د دې ترڅنګ مخابراتي خدمتونو د وګړو له پاره هم ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. دا مهال په افغانستان کې مېلیونونه خلک له ګرځنده ټلیفون او انټرنیټ څخه د خپلو ورځنیو چارو له پاره ګټه پورته کوي. دا وخت په افغانستان کې زیاتره خلک د ګرځنده ټلیفون خدماتو ته لاسرسی لري او نژدې نیم یې انټرنیټ کاروي. د هېواد ۳۴ ولایتونو مرکزونه او ځینې ولسوالۍ د ټلیفون او انټرنیټ خدمات لري او هڅه داده چې ژر تر ژره د هېواد په ټولو ولسوالیو او لرې پرتو سیمو کې چې لا هم مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، دغه خدمتونه وړاندې او خلک ترې ګټه پورته کړي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د مخابراتي خدمتونو په برخه کې شته نیمګړتیاوې له منځه یوسي او خلکو ته په دې برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي. په همدې موخه د افغانستان اسلامي امارت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت به د ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د غوره مخابراتي خدمتونو وړاندې کولو په موخه ۴۵۰ نوي سایټونه جوړ کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر محترم مولوي نجیب‌الله حقاني په حضور کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او خصوصي مخابراتي شرکتونو ترمنځ د ۳۶۵ مېلیونو افغانیو په ارزښت په لرې پرتو سیمو کې د مخابراتي خدمتونو رسولو قراردادونه لاسلیک شول. محترم ملا صاحب د یادو قراردادونو د لاسلیک پر مهال وویل، اسلامي امارت د ملت د خدمت د ځان مسؤلیت ګڼي او په ټول توان هڅه کوي چې هېوادوالو ته د ژوند د نورو برخو ترڅنګ په ښه او لوړ کیفیت مخابراتي خدمتونه هم وړاندې کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې د


پانګونې لپاره ښه زمينه برابره کړې او د ټولو هغو ملي سوداګرو او پانګوالو د هڅو قدرداني کوي چې د هېواد د اقتصادي ودې په موخه پانګونه کوي. د دغو قراردادونو له مخې به افغان بېسيم او امټي‌ان مخابراتي شرکتونه په کندهار، نورستان، بدخشان، ارزګان، زابل، کونړ، ننګرهار او کابل ولايتونو کې د ۳۳ سايټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو سيمو کې چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري؛ مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي. د ۱۴۰۲ لمريز کال پر مهال په ټول هېواد کې له پلان شوو ۴۵۰ سايټونو څخه به ۳۳ سايټونه په نهو مياشتو کې ګټې اخيستنې وسپارل شي.

## لرې پرتو سيمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونو لاسليک کېدو موخه:


موخه يې هېوادوالو ته د غوره او باکيفيته مخابراتي او انټرنېټي خدمتونو وړاندې کول، په دې برخه کې شته ستونزو ته پای ورکول او د مخابراتي خدمتونو له لارې د ولايتونو او ولسواليو له مرکزونو سره د لرې پرتو سيمو نښلول دي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «لرې پرتو سيمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونو لاسليک کېدو» خبر يې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې لږي پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو ترونونو لاسلیک کېدو راپور يې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټویټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




### تلويزيونونه




### ويب پاڼې




### راډيوگانې





### په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولگه





## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه




### راډيوگانې




## ورځپاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونو لاسلیک کېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونو لاسلیک کېدو په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۰۶۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۷۹۹مثبت دي. ۱۸۵منفي نظرونه او ۷۶ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۷ ٪، منفي ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه۴ ٪ دي.

۲. لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونو لاسلیک کېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۰۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۸۷ مثبت، ۷۹ منفي او ۱۴۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۶۹٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲۰ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۷ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ٦٩ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۲۰ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۴ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۲۸٦ مثبت نظرونه، ۲٦۴ منفي نظرونه او ۲۱۹سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۳ ٪ مثبت نظرونه، ۱۰ ٪ منفي نظرونه او ۷ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو ټرونونو لاسلیک کېدو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. ددې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د گوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونو بلکې سلگونو ته رسېږي.

- له اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند څخه مو هیله ده چې د انټرنیټ بیې راټیټې کړي، څکه خلک بې وسه دي او نه شي کولای په دومره لوړه بیه انټرنیټ وکاروي.
- په پکتیکا کې ډېرې داسې ولسوالۍ شته چې هېڅ ډول مخابراتي سیستم نه لري؛ نو که چېرته د دې ولایت ولسوالیو ته هم مخابراتي خدمتونه ورسېږي ډېره به ښه وي.
- په افغانستان کې مخابراتي سېستم ډېر ټیټ کیفیت لري او قېمتونه یې زیات دي. اسلامي امارت باید ورته توجه وکړي. کاپیسا ولایت د نجراب او افغانیه دره کې نه ټلیفون او نه انټرنیټ کار کوي، له ډېرو ستونزو سره مخ یوو.
- غزني ولایت زنه خان ولسوالۍ کې هم مخابراتي شبکې کار نه کوي، له حکومت څخه مو غوښتنه ده چې دلته هم په دې برخه کې توجه وکړي.

- د بدخشان په یوه ولسوالۍ کې هم انټرنیټ کار نه کوي، دغه راز د کندوز ولایت په ارچي ولسوالۍ کې انټرنیټ خو څه کوي چې ټلیفون هم سم کار نه کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ د خلکو په نظرونو کې د انټرنیټ د بیو ټیټېدو غوښتنه شوې ده. دوی وایي چې په افغانستان کې د انټرنیټ بیې دومره لوړې دي چې خلک نه شي کولای ګټه ترې پورته کړي. دغو خلکو په خپلو نظرونو کې له اسلامي امارت په ځانګړي ډول ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت څخه غوښتي چې د انټرنیټ بیې دې راټیټې کړي. د خلکو نظرونه د قدر وړ دي او اسلامي امارت د خلکو غوښتنو ته تل لبیک ویلی دی او د امکان په صورت کې یې د دوی غوښتنې پوره کړې هم دي. دا چې اوسمهال خلکو ویلي دي چې د انټرنیټ بیې لوړې دي، نو اسلامي امارت په ځانګړي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو د ټرونونو لاسلیک پر مهال وویل، اسلامي امارت د ملت خدمت د ځان مسؤلیت ګڼي او په ټول توان هڅه کوي چې هېوادوالو ته د ژوند د نورو برخو ترڅنګ په ښه او لوړ کیفیت مخابراتي خدمتونه هم وړاندې کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره کړې او د ټولو هغو ملي سوداګرو او پانګوالو د هڅو قدرداني کوي چې د هېواد د اقتصادي ودې په موخه پانګونه کوي. له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت هڅه کوي چې خپلو هېوادوالو ته باکیفیته او په ټیټه بیه خدمات وړاندې کړي. څه موده وړاندې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د ټلیفوني اړیکو او انټرنیټ په بیو کې کموالی راوستی دی. پخوا به یو جي بي انټرنیټ په ۲۵۰ افغانۍ پلورل کېده چې اوس یې نرخ ۱۱۰ افغانۍ ټاکل شوی دی. دغه راز د ټلیفوني اړیکو بیې مثلاً له یوې شبکې بلې شبکې ته چې پخوا به پر یوه دقیقه له ۳ افغانیو څخه تر ۳نیمو افغانیو لګښت راته، اوس یې بیه ۲،۲ افغانیو ته راټېټه شوې ده. له دې څخه ښکاري چې اسلامي امارت به په وخت سره د ټلیفوني اړیکو او انټرنیټ په بیو کې نور هم کموالی راولي، څو خلک له یوه لوري دغو خدمتونو ته لاسرسی ولري او له بل لوري وکولای شي په ټیټه بیه انټرنیټ او ټلیفوني اړیکې ترلاسه کړي.

- **دویم**؛ یو شمېر خلکو د اسلامي امارت دا ګام چې لرې پرتو سیمو ته مخابراتي خدمتونه رسوي، ستایلی دی او ویلي یې دي چې په دې سره به په لرې پرتو سیمو کې د خلکو زیاتې ستونزې هوارې شي. دوی وړاندیز کړی چې له دې پرته په ځینو نورو ولسوالیو کې هم مخابراتي خدمتونه نشته، خلک له ستونزو سره مخ دي او که دې ولسوالیو ته هم دغه ډول خدمات وړاندې شي نو ډېره به ښه وي. د مثال په ډول د پکتیکا، غزني، کندوز، بدخشان او داسې نورو ولایتونو کې ځینې ولسوالۍ شته چې لا هم مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري. د دوی وړاندیز پر ځای دی. اسلامي امارت متوازن انکشاف ته ژمن دی او هڅه کوي چې د هېواد یو کلی هم له مخابراتي خدمتونو څخه بې برخې پاتې نه شي. همدا اوسمهال چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او خصوصي مخابراتي شرکتونو

ترمنځ د ۳٦٥ میلیونو افغانیو په ارزښت په لرې پرتو سیمو کې د مخابراتي خدمتونو رسولو قراردادونه لاسلیک شول، دا یې ښه بېلګه ده. د دغو قراردادونو له مخې به افغان بېسیم او امټي‌ان مخابراتي شرکتونه د کندهار، نورستان، بدخشان، ارزګان، زابل، کونړ، ننګرهار او کابل ولایتونو کې د ۳۳ سایټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو سیمو کې چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري؛ مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي. د ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال په ټول هېواد کې له پلان شوو ۴۵۰ سایټونو څخه به ۳۳ سایټونه په نهو میاشتو کې ګټې اخیستنې وسپارل شي. همدا خبر ددې خبرې ثبوت دی چې اسلامي امارت په ټول توان هڅه کوي چې مخابراتي خدمتونو ته پراختیا او په دې برخه کې شته ستونزو ته پای ورکړي.

## پایله

ټلیفون په تیره بیا ګرځنده ټلیفون او انټرنیټ هغه څه دي چې نن سبا د هر سړي اړتیا ده. د همدې وسیلو پر مټ خلک کولای شي، یو له بل سره اړیکې ټینګې او خپلې ورځنۍ ستونزې حل کړي. د دې ترڅنګ په اوسمهال کې دغه دواړه وسیلې د حکومتولۍ، سوداګرۍ، ټولنیزو اړیکو او رسنیزو فعالیتونو په برخه کې رغنده رول لري. له همدې امله د نړۍ ټول هېوادونه په دې هڅه کې دي چې له سیاست څخه نیولې بیا تر اقتصادي او سوداګریزو چارو پورې د انټرنیټ په مرسته ترسره کړي. خو په کومو هېوادونو کې چې مخابراتي خدمتونو او انټرنیټ ته لاسرسی نه وي، نو هلته بیا خلک له زیاتو ستونزو سره مخ وي. افغانستان هم د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې مخابراتي خدمتونه او انټرنیټ لري، خو لا هم په ټول هېواد کې خلک ورته لاسرسی نه لري. اسلامي امارت دې ستونزې ته د پای ورکولو په موخه هڅه پیل کړې چې د هېواد ګوټ ګوټ ته مخابراتي خدمتونه ورسوي او پرمټ یې بیا انټرنیټ ته د خلکو لاسرسي اسانه کړي. په همدې موخه یې په افغانستان کې له فعالو مخابراتي شرکتونو سره لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو تړونونه لاسلیک کړل چې له مخې به یې د ۴۵۰ مخابراتي سایټونو له جملې څخه ۳۳ هغه یې د نهو میاشتو په موده کې جوړ شي. دغه سایټونه چې د کندهار، نورستان، بدخشان، ارزګان، زابل، کونړ، ننګرهار او کابل ولایتونو په لرې پرتو سیمو کې جوړېږي، په جوړېدو سره به یې د مخابراتي خدمتونو په برخه کې په دې سیمو کې د مېشتو خلکو ستونزې هوارې شي. اسلامي امارت ژمن دی چې مخابراتي خدمتونه او انټرنیټ ټول هېواد ته ورسوي او خلک ترې برخمن کړي.

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبــوعـاتــو ريــاست



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG

1402 لمريز كال - د غبرگولي 31مه